http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com




Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

# دخاطر دیوان

مصري خان خاطر اپریدے

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ترون

د خيبر درې
د شاعرانه غيږې
په
نوم

د خاطر رنګين غزل ته حيرانېږم
په دې خړ خيبر کښې څه دي بې له خاورو

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin



# فهرست

شمېر — مخ

( ا )

۱ : چې عاشق د معشوقې په لور کاته کا ____ ۱۴

۲ : چې اشنائې ستمګرشي نو به څه کا ____ ۱۵

۳ : ته پوهه چې کوي هر وخت د دوه اشنا ____ ۱۶

( د )

۴ : کافي برقي دي ديدار د محمدؐ ____ ۱۷

( ل )

۵ : خبر نه که در ته ما وکړل تا را وکړل ____ ۱۸

( م )

۶ : د استاد حسن تماشې وا خستم ____ ۱۹

۷ : دوا يه شم تا نه قربان څه وکړم ____ ۲۰

۸ : باغ د مينې دې د خيال په کښې غنچې کړم ____ ۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


مخ
۹ : زهٔ تکه د مرم په شان دیدار ته اربهٔ کیږم ——— ۲۲
۱۰ : شرمسره چې نه یم په ځوانه پسې نغمه یم ——— ۲۳
۱۱ : ستا په الفت کښې به هر څنګه یار نهٔ شم ——— ۲۴
۱۲ : واخلمه تا اوکهٔ دنیا واخلم ——— ۲۵
۱۳ : خوشحالی ستا شوه زهٔ چې نهٔ اخلم ——— ۲۶
۱۴ : تکه کلی چې په ازغو کښې وینم ——— ۲۷
۱۵ : په دې دنیا کښې هسې شپې تیروم ——— ۲۸
۱۶ : اشنا کهٔ تا ته په کتو پوه شوم ——— ۲۹
۱۷ : قسمت داسې دې ویده کړم چې بیدار نهٔ شوم ——— ۳۰
۱۸ : نور په نیرهٔ چې نهٔ ځانګړی چې ځهٔ وایم ——— ۳۱
۱۹ : ته به کرغږ هسې بنګلې نهٔ به میرم ——— ۳۲
۲۰ : ځنګلی مخ ته دې د مرم په شان اربهٔ یم ——— ۳۳
۲۱ : رنګ ته چې ګوره سرے سکور نهٔ یم ——— ۳۴
۲۲ : سپرلیه ! زهٔ دې په غنچو کښې نهٔ یم ——— ۳۵
۲۳ : یاره ! ستا مینې په اور سپځلے یم ——— ۳۶
۲۴ : ستا د منزل په منزلونو کښې یم ——— ۳۷

( ق )

۲۵ : ژوندی کله نه ماپرهٔ دی چې لهٔ ځا دره ——— ۳۸
۲۶ : څوره به زهٔ تربرمه به سره سترګو ——— ۳۹
۲۷ : نن به ځهٔ پرسې نما به ترمو سترګو ——— ۴۰



مخ
۲۸ : بیا دې سهی نهٔ کړم په هغو سترګو ——— ۴۱
۲۹ : ماد وصال په شپه کښې توله شپه سحر لیدلو ——— ۴۲
۳۰ : شوق چې ستالهٔ دیره پیغو بعض سره لاړ لو ——— ۴۳
۳۱ : یاد شومه د عشق دګو تګو نو په سر وتو ——— ۴۴
۳۲ : غو به سره چې درانه په نیرهٔ دره دره یو ——— ۴۵
۳۲ ب : څکه چې تن په سوزیږو د تیږ کړو ——— ۴۶
۳۲ ج : بنده نشوله دیره چې انکار دې وکړو ——— ۴۷

(ک)

۳۳ : څبر نهٔ وم دې ثواب او دې عذاب ته ——— ۴۸
۳۴ : زهٔ یمه هجران د دنیا سترګو ته ——— ۴۹
۳۵ : ته چې رقیب ته اشارې کړې داد مل نخښه ده ——— ۵۰
۳۶ : خوارهٔ ترا ځهٔ شر د خریدو هسې نامه پاتې ده ——— ۵۱
۳۷ : بیګا ستا په انتظار چې هسې ستړې توله شپه کړه ——— ۵۲
۳۸ : لرو نقاب لرې کړه دل زده کړه ——— ۵۳
۳۹ : ما په شرګیو تا په خوبو تیره کړه ——— ۵۴
۴۰ : رقیبه په څپو راغلې راشنا خبرې کړه ——— ۵۵
۴۱ : یاد شراب نه نشې دیاسه ——— ۵۶
۴۲ : د سحر باده دا ارمان یو سه ——— ۵۷
۴۳ : تکه کلی د مرسپدو چکه شه ——— ۵۸
۴۴ : ستالهٔ سپینه مخه ځار نما نیکے شه ——— ۵۹
۴۵ : د هجران په شپه دیر په لاس کښې راغله ——— ۶۰
۴۶ : ترغو ته چې نیرهٔ کیږی کله کله ——— ۶۱

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



مخ
٤٧ : ستا د ښکلي مخ شمعه چې مې شراله ———— ٦٢
٤٨ : بیا به سره کړه دوه اوس څړاڼي ده دغه درومه ———— ٦٣
٤٩ : شکر دے چې نۀ هم د شپې شومه ———— ٦٤
٥٠ : کله چې په فکر کښې د ستا یمه ———— ٦٥
٥١ : د لادې غاړه شم د ښېرښکني دتلې یمه ———— ٦٦
٥٢ : ته به څنګه تېرېږې که په هوښیار باندې وختنه ———— ٦٧
٥٣ : ما په مثال لکه پتنګ نګېنه ———— ٦٨
٥٤ : د ستا د خلې چې فیصله ما نه شي ———— ٦٩
٥٥ : نور نصر به خړ دې کښې دا قسین مه زکړه ———— ٧٠
٥٦ : ته خوایه زۀ به څۀ کړم، زړګیه لېږ تیله ! ———— ٧١

ۀ

٥٧ : څیګر چې شي کباب په لمبو د لګېدۀ ———— ٧٢
٥٨ : لرے دریاب د مینې نۀ شي په واړۀ زړۀ ———— ٧٣

ی

٥٩ : داسې بله شپه به په نصیب سره راشي ———— ٧٤
٦٠ : عکس د ستا زما د سترګو له څڅابه وڅي ———— ٧٥



٦١ : د ستا سترګې چې کړې د زړۀ نه وځي ———— ٧٦
٦٢ : زړګیه ! تا دې چې د دردونه څۀ دي ———— ٧٧
٦٣ : چې پښېمان نۀ شي په یا کښې څۀ دي ———— ٧٨
٦٤ : کله د ستا د خند به د شپې دی ———— ٧٩
٦٥ : د ستا په غم کښې خوشحالې پټې دی ———— ٨٠
٦٦ : زما چې دا مدام د غه دلبر نه سترګې دی ———— ٨١
٦٧ : خن خن ما نه هسې بله دنیا ښکاري ———— ٨٢
٦٨ : زړۀ چې کله هر څۀ رانه هر څۀ غواړي ———— ٨٣
٦٩ : زما زړۀ او د ستا سترګې سره جوړېږي ———— ٨٤
٧٠ : ما نکه فن بدې زړۀ د چېرې خو د دردونه دکا تېرېږي ———— ٨٥
٧١ : څۀ چې پرې پښماڼه ما د یار سره جوړېږي ———— ٨٦
٧٢ : د مخت ډګډار د نن چې ما غرڼه نۀ جوړېږي ———— ٨٧
٧٣ : نور به ایله څۀ د لېونې نه پاتې کیږي ———— ٨٨
٧٤ : سترګې دې کړه برېنډې چې وختونه راخطا شي ———— ٩٠
٧٥ : په ارمان د نادانۍ شي چې هوښیار شي ———— ٩١
٧٦ : د دې دنیا نه چې کلان ورک شي ———— ٩٢
٧٧ : چې چې دوه بنده دے دلبر به پېمان شي ———— ٩٣
٧٨ : ستا چې خو دې زلفې کړو ښۀ تار شي ———— ٩٤
٧٩ : دواړند چې به چې دا وې چې کاڼۀ به شي ———— ٩٥

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



مخ
۸۰ : خزان لاړ شي بهار راشي ګلان خوشحاله شي ———— ۹۶
۸۱ : راشه په کوڅه کښې د جګر خبرې نه شي ———— ۹۷
۸۲ : واسته په ستړګو کښې به څه پاتې شي ———— ۹۸

ے

۸۳ : زړه په ما نه دے چې تا ورلے مخ دے ———— ۹۹
۸۴ : شکر چې ستا د ګرانې مینې طلبګار دے ———— ۱۰۰
۸۵ : خون خوږ د مینې په ترخو کښې انتظار دے ———— ۱۰۱
۸۶ : خدایه څوک مسره بې وفا زما دلبر دے ———— ۱۰۲
۸۷ : ما دې ګمان راته اشنا دستا په خبره دے ———— ۱۰۳
۸۸ : شانده چې حسن دې اشنا د سرو لمبو نه ډک دے ———— ۱۰۴
۸۹ : تک تود سرے دا ستا سرے ورېل دے ———— ۱۰۵
۹۰ : څو مسره وړې په زړګي باندې چې غم دے ———— ۱۰۶
۹۱ : ستا په انتظار کښې ما نه کال څه دے ———— ۱۰۷
۹۲ : چې نزدې ستا په تور دے په بل تور دې پرېږد نه دے ———— ۱۰۸
۹۳ : چې لمن نظر عب د بصر باقي دے ———— ۱۰۹
۹۴ : ستړګو دې چلونې وخندا زده کړے ———— ۱۱۰

ې

۹۵ : د ځان سپکاوی ولې کښې سکه وې مالیدې ———— ۱۱۱
۹۶ : اشنا چې ته لیدهٔ تېرې وعدې را یادېدې ———— ۱۱۲
۹۷ : زما د امید ونې وچې شوې وغږېدې ———— ۱۱۳
۹۸ : چې بنګلې دې وخندېدې شرنګ شوې ———— ۱۱۴



مخ
۹۹ : پوره شوې په دې چې په کنځل کښې خندګه بنګارې ———— ۱۱۵
۱۰۰ : اے ګله ستا چې دکې له خندله ستړګې لاړې ———— ۱۱۶
۱۰۱ : کله دې دا زلفې په لاس راغلې اشنا بیا به څه کړې ———— ۱۱۷
۱۰۲ : د پرون خوشحالۍ بند نه ده بیا راته هیرېږي ———— ۱۱۸
۱۰۳ : ګله مجنون غرنده د ګرځم په بیابان دو ———— ۱۱۹
۱۰۴ : راشه اے ماه تابان په توره شپه کښې ———— ۱۲۰
۱۰۵ : چې د ستړګو دې بنګار زړې زما ستړګې ———— ۱۲۱
۱۰۶ : خود دعسرې ېرې کړې شرې زما ستړګې ———— ۱۲۲
۱۰۷ : د ستا چې نه وینم دا تورې ستړګې ———— ۱۲۳
۱۰۸ : څه وشو چې ستړګې مې په تاباندې خوږې شولې ———— ۱۲۴
۱۰۹ : چې اشنا زړې کړې ایسار پرېږم ولې ———— ۱۲۵
۱۱۰ : اوښکې نه کېږي ... راماتې شرې ———— ۱۲۶
۱۱۱ : ته به په زړه کښې ما ته څه راکړې ———— ۱۲۷
۱۱۲ : ته ما ستا ... په سله نه یې ———— ۱۲۸
۱۱۳ : هر څوک ... د زړه قرار ... ———— ۱۲۹
۱۱۴ : داسې راته ګورې ته نه چې راته ګورې ———— ۱۳۰

## سندرې

له ۱۳۲ نه تر ۱۶۵ پورې

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

چې عاشق د معشوقې په لور کاته کا
خو د لېمه شي کم طاقته پېواته کا

چې پلو له مخه لرې کړي دنیا شي
لکه ستوری د سبا چې را خاته کا

لرې عکس د زړه و اخله که دې شک وي
چې دا تور بانه دې څرنګه ویشته کا

په مئین زړه څنګه دن شي چې یار راشي
په هیبت زړه په کوګل کښې الواته کا

د خاطر په زړه کې داغ د بېلتون کړه
چې د یار په لور کاږه واږه کاته کا

چې اشنا یې ستمګر شي نو به څه کا
چې زخمي څوک په ځیګر شي نو به څه کا

چې ټول عمر یې تېر کړی په پالنګ وي
څه چې زمکه یې بستر شي نو به څه کا

چې په عمر کښې یې غم لیدلے نه وي
چې د غم سره یې سر شي نو به څه کا

انتظار چې د وصال په کومه شپه کړو
د بېلتون چې پرې سحر شي نو به څه کا

که دیدن د یار مونده په دوهر شي
چې غماز د چا رهبر شي نو به څه کا

زه خاطر خو همېشه دغسې وایم
چې اشنا یې مرور شي نو به څه کا

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زړۀ مې کوی هر وخت د ددو نه آشنا
لږ خو مې واوره فریادونه آشنا

ترڅو به ژاړم ستا په مینه کښې نۀ
ګوره داوښکو مې سیندونه آشنا

اوس دې له غمه خلاصیدے نشم
ما وې په عشق کښې وی خوندونه آشنا

ښ په جبین کښې دې خالونه خوردی
دی په چشمانو مې ګردونه آشنا

کۀ ستا په خیال کښې دے اجل ته قریب
د خاطر شته دی ارمانونه آشنا



کاڼی بوټی دی دیار د محمدؐ
ما منلی په دیدار د محمدؐ

ګرځنګونه به یې لاړ شی په مخکښې
کۀ چا و نیوله لار د محمدؐ

د دنیا واړه ګلونه به یې هیر شی
کۀ چا ولیده ګلزار د محمدؐ

چې د دې دنیا ژړا او خندا نۀ وے
نۀ وے شمع په مزار د محمدؐ

د یادونو یې وصال ګڼه خاطره
چې قرار وی یې قرار د محمدؐ

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خبر نن کۀ د رته ما وکړل تا را وکتل
خو ګودم به دې بیا کۀ دې سبا را وکتل

هم د غسې ګلونه ورېږي مینه جوړېږۀ
غمۀ وشو پسرلے دے کۀ اشنا را وکتل

دنیا را ته ګوری د کتو نه ووتم
چې تا ته مې کتلی دی هر چا را وکتل

پۀ مخه باندې را غلې مخ دې خله پټوۀ
کۀ دغم دې را ته جوړ چې دې پۀ شا را وکتل

دستی مې وخندل هم دا مې وۀ اَرمان
تا چې اے رقیبه پۀ خندا را وکتل

یو دم مې زړۀ نرے شو لوهم ولو خاندګۀ مۀ
خاطر چې غریو نیولی پۀ ژړا را وکتل

[illegible]



د ستا د حسن تماشې واخستم
تکه لوګے پۀ سر لمبې واخستم

لاس خو مې را نۀ کړه چې مخ پټوې
ګوری یاران مې د غم شپې واخستم
دا د رته سوال کړم چې سوال نشم کړے
وای خله ته چې ستا اسرې واخستم
سبا مې بیا پۀ زولنو کښې ګوره
نن مې چې فکر د کوڅې واخستم
سم دې د مخ پۀ سبا پوه نۀ شوم
کۀ دې د زلفو تورې شپې واخستم
کور د ژوندون را ته یو پور ښکاره شو
چې تصور د هغې واخستم
بس یاد دم دې نور مې مۀ تنګوه
چې ته مې صبر نشې غمې واخستم

خاطره تۀ او دا دنیا دې پوه شه
نۀ بس د عشق یوې قصې واخستم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

وواېه شم تا نه قربان څه وکړم
نور ددې د پاسه په ځان څه وکړم

ته خو به کمځې د زلفو جوړې کړې
زه په دې شلېدلي ګرېوان څه وکړم
ته خو چا ته نه درځې، خو زه باغلم
ځم يم ستا په دربکښې مهمان، څه وکړم
زه به نور څه نه کړم بس دے سوال کوم
نور خو زما نشته دے توان، څه وکړم
ستا په طمع ځان له پاتې شوے يم
ټول خو راته لاړل ياران، څه وکړم
پوه دې چې په ځان کړم اوس چې نه پرېږدي
بيا به راسي نه کړم سلطان، څه وکړم
چا به دغم ټک ټوندون اخستے وه
بس خو چې پيدا شوم انسان، څه وکړم

اوس خو زه خاطر په څه پوهېږم نه
تا چې کړم مه راسي مېلان، څه وکړم



باغ د مينې دې د خيال په کښې غوټۍ کړم
ستا د مغ په تصور کښې تماشې کړم

بل به نه وی ياره ستا غوندې کښې حُسن
څله اوبه د خپله لاسه درپسې کړم

ستا د مغ کتاب د زړه په ستړګو ګورم
په ځان تېرې بې او بدې راخورې کړم

زه خاطر خو ياره ستا د مغ کتاب ته
بې له تا نه په خبر کښې ودمځې شپې کړم

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زهٔ لکه د موم په شان دیدار ته اوبه کېږم
پرېږده چې او به شم ستا رخسار ته اوبه کېږم

چې رته شي خوبونه شپې پرې ستورې محفل جوړ کړي
همدا ئې مشغولا شي ستا سپېنگار ته اوبه کېږم

زهٔ پرې ښهٔ پوهېږم ستا لیدل زما اجل دے
بیا ئې هم وار نهٔ شي ستا یو وار ته اوبه کېږم

اوس خاطره ولې خدائې په نېهٔ کرم دومره سخته
بیا چې پس له مرگه ستا مزار ته اوبه کېږم



ستا په اُلفت کښې به هوښیار نهٔ شم
خو چې د عقل نه وزگار نهٔ شم

سود ئې د عشق په لېونتوب نهٔ شی
خو چې رسوا دې په بار بار نهٔ شم

یار ئې وفا دې ماته هله وائي
چې ترې لاسر او ماله زار نهٔ شم

خو چې په تورو خاورو موړ نهٔ شم
موړ به دې هر سره په دیدار نهٔ شم

کهٔ د منصور غوندې په دار شم اشنا
دا ستا له عشق به توبه گار نهٔ شم

خاطره! داسې گذار عشق را کړو[ے]
چې بل گذار ته به بېدار نهٔ شم

ے مخزن الاسرار او دیوان کښې ـ د اگرو ، دے ـ چې مصرع ئې ورزنه کړی

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



واخلمه تا او کړه دنيا واخلم
په خندا خرڅه ژړا واخلم

لبې دې پوره ته کړه د مخ نه زلفې
لبه سودا چې په دنيا واخلم

ته چې په سترګو کښې مسکې شوې ګلې
نه دې درې مينې بلا واخلم

تا ته چې کوم په دوو زړونو کښې شم
يو قدم مخکښې بل په شا واخلم

مرګ او بېلتون راته چوره راغلي
خاطره دا واخلم که دا واخلم



ځومره چې زړېږم په ځوانۍ پسې زهيرېږم
خداې زده نه پوهېږم چې ساده شوم که پوهېږم

نه اوله تا تګ داسې کله چرته شوی
دومره خو پوهېږم چې قدم اخلم ودرېږم
ته او ستا بنايست چې په ما ځنګه ځنګه کړې شي
مه کوه ايله نن د هر څه سره جوړېږم
نه يمه خوشحاله ستا په غم کښې خندنه مه شي
خداې ېې پخلا مه کړه چې له تا مرورېږم
شان يې د کړو نه وي خو چې زړه ېې شي راپورته
تا ته چې زه سوال کړم د خپل ځان ځنې شرمېږم
ځوبښته ېې هم دا چې راته وواېې چې دومره
خداې خبر چې بيا دې په پلو د ربنکاره کېږم
ته که په يوځله له ما خلاصېږې نو يې واخله
ته به راته نه شې کټ ځځه له خنده کېږم

ځکه ما خاطر درته دا ووې چې ېې هېر کړه
پرېږده چې يې وار په هر ځاې کښې در يادېږم

---

مياشتنۍ ـ قند ـ مردان ـ خصوصي ګڼه ١، ر کالاين نمبر (ص ٩٥)

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خوشحالي ستا شوه زړه يې نه اخلمَ
د ستا غمونه واړه زه اخلمَ

تا يې چې زړه وړه ګواه هم نه لرم
اوس به له تا نه څنګه زړه اخلمَ

اول سپېڅلې وم ستا د مينې د اور
اوس په ځان پوره شوم چې لمبه اخلمَ

په وړاندې دې څم په دروستو کوم آشنا
زه قدمونه چې واړه اخلمَ

هر مړه ګړۍ دوه ته په خاطر دې د غم
په اسوېلو کښې چې سباله اخلمَ

---

له متن لړ په کتنې د الفاظو غلطونه د سره چې صحيح نه دے .



لکه ګلې چې په اغزو کښې وينم
داسې يې زړه ستا په ښو کښې وينم

رخسار دې وينم تورو زلفو کښې ستا
لکه رڼا چې په تيارو کښې وينم

ګلفامه څوک له لرې اوسې له ما
زه دې د نم په پلوشو کښې وينم

د ستا ليدل تېر شوے خوب وو آشنا
بيا به دا خوب په کومو شپو کښې وينم

اے د سبا ستړګې يا خېږه په ورو
تله د آشنا دې په خترو کښې وينم

زما خاطر خاطر دې اوږد کښې وېس
اوس يې لړګي په اسوېلو کښې وينم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

په دې دُنيا کښې مستې شپې تېروم
لکه مېلمه يو دوه غرې تېروم

پهٔ ما زهير مهٔ شي خوږ مخ ښکاره کړه
پهٔ زړهٔ د ستا د مخ لمبې تېروم

خوشحال تهٔ کوه چې غم نهٔ لرې
زهٔ لېونے يم چې تنگسې تېروم

دا نهٔ خاطر ستا د خاطر د پاره
پهٔ خپل خاطر د غم چپې تېروم

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin



○

اشنا کهٔ تا ته پهٔ کتو پوه شوم
نو بس پهٔ ټولو تماشو پوه شوم

پس څو معلومه شوه چې نهٔ راځې
ستا د دروغو پهٔ وعدو پوه شوم

يا د ساقي د مېو خوند نشته دے
يا زهٔ ايله اوس پهٔ نشو پوه شوم

سوے به هم د خاطر زړهٔ وي داسې
زهٔ دې د مخ پهٔ سرو لمبو پوه شوم

○

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

○

نور پهٔ ژړهٔ مې نهٔ ځائيږي چې څهٔ وايم
دا نه بيا سروديږي چې څهٔ وايم

کهٔ څهٔ نهٔ وايمه هم راپورې کړي
پهٔ دې هم راته قهرېږي چې څهٔ وايم

د هر چا پهٔ لوري څمه واسې وخت دے
بيا مې وخت کله تېرېږي چې څهٔ وايم

کهٔ خبره نهٔ وی مانه خبر دے خبر دے
بيا خپل حسن نه خبرېږي چې څهٔ وايم

وېره بنه پهٔ تا پوهېږمه خاطره
خو بس ستړګې مې شرمېږي چې څهٔ وايم

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin



○

قسمته راسې دې ودهٔ کړم چې بېدار نهٔ شوم
بغېر لهٔ تا ستا د غمونو نه وزګار نهٔ شوم

پهٔ دې دنيا کښې به غم ستا لهٔ ژوندهٔ څهٔ ژوندون وي
لېږم غوندې ځوېږم خو يو ځل پهٔ کښې خمار نهٔ شوم

ستا پهٔ الفت کښې هغه خوب چې ما ليدلے اشنا
د رقيبانو د جرګو ځنې وېزار نهٔ شوم

تهٔ چې راکوې زهٔ به هغه وخت پهٔ طمع ومه
يو ځل هم مړې د ستا د خلې پهٔ ښهٔ ګفتار نهٔ شوم

هغه وعده چې تا پهٔ ستړګو کښې وه مانه کړې
دا زهٔ خاطر دې د وعدې پهٔ انتظار نهٔ شوم

○

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ته به کرځې مسې بنګلے زۀ به مړ یم
چې یې اوس وښے لږ لیدلے زۀ به مړیم
جنازه یې چې لۀ کوره کړي تـه درومې
ته به نۀ وې راو تلے زۀ به مړ یم
خداۍ د پاره پۀ مزار یې چې را درومې
لږ شه ماته پښه نیولے زۀ به مړیم
زۀ به مړ شمه قرارې مرګے ورک شه
سره خاندی به تړول کلے زۀ به مړیم
وچې تږې به پۀ ما وی را زرغونې
وی مزار به مې مُښلے زۀ به مړ یم
اے اشناچې دې وطن له ته را درومې
خړ خښې خو دې لیدلے زۀ به مړیم
خړې خاورې به پۀ ما باندې انباروی
مرسپے به دروی غلے زۀ به مړیم

د کاکل پۀ ختمه بند د مخ کتاب کړه
ما خاطر پۀ خدای سپارلے زۀ به مړیم



بنګلی مخ ته دې د موم پۀ شان اوبۀ یم
لکه کافے مسې کلک ورته پۀ زړۀ یم

چې پۀ کومه لاره لاړشی زۀ یې مل یم
لکه ګرد یې مسې خو د پۀ مریو پلۀ یم

زۀ پۀ کومو سترګو ځان ته بیمار وایم
چې د سترګو اخستے شمه نو ښۀ یم

ستا لیدل لکه د خوب لیدل دی یاره
پۀ دې خوب پسې لا مفتې وُدۀ یم

لږ د ځان سره پۀ زړۀ کښې فکر وکړه
زۀ خاطر دې چرې یوځلې پۀ زړۀ یم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

کوره چې رنګ مې سوے سکور نۀ يم
طاقت مې نشته ستا د زور نۀ يم

راځه د ستړګو نه مې مۀ وېرېږه
سرې په ژړا دې غځۀ مېخور نۀ يم

دي اسوېلو ته مې تۀ نۀ ګورې ځۀ
سوے پۀ اور يم سوے لور نۀ يم

ستم کوه تۀ منع کړے يې چا
زۀ لا خاطر مړے د ګور نـۀ يم

○



○

سپرلیه زۀ دې پۀ غُنچو کښې نۀ يم
عادت پۀ داسې تماشو کښې نۀ يم

کۀ راکوې نو سم شراب را کوه
زۀ دې ساقي هسې اوبو کښې نۀ يم

اے خدايه بس ما خپله ورځ وليده
د داسې ژوند پۀ تېرېدو کښې نۀ يم

د ستا بانړۀ د ستا رخسار پۀ خاطر
يې د ګلونو پۀ ازغو کښې نـۀ يم د

تۀ ما خاطر ته هسې ست خو وکړه
چې خفه نۀ شې پۀ در تلو کښې نۀ يم

○

د متن لیکندار دیوان کښې دا بیت د غزل وروستی بیت دے

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ستا د منزل په منزلونو کښې یم
د دیدو په امیدونو کښې یم

نه مې دنیا نه مې عقبا ګټېږي
دغې سودا او دا فکرونو کښې یم

د ستا رخسار به مې هېر نشي اشنا
که د بهار په سرو ګلونو کښې یم

زما په زړه کښې خو هم ته یې اشنا
دا نه خاطر که د چا زړونو کښې یه



یاره ستا مینې په اور سوځېدلے یم
روغ به نشمه په زړه داغلے یم

خودم قسم چې تر هغې پورې ژوندے یم
ډېر دې زه په تش دیدن ساتلے یم

همېشه سر په زنګون په غم کښې ناست یم
یاره تا کله خوشحال لیدلے یم

خوار خاطر ولې چې دا کومه ګناه ده
چې له در دې بېنوا شړلے یم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ژوندی کله نهٔ ماپهٔ دی چې لهٔ خاورو ۱
نهٔ ماپهٔ دی نهٔ ساپهٔ دی چې لهٔ خاورو

چاچې خادرې ځان ګڼلے پهٔ ژوندون دے
هغه چرته کښې وُدهٔ دی چې لهٔ خاورو

د انسان سره چې غم مل شو نو کلک شو
دیوال کړے چا اوبهٔ دی چې لهٔ خاورو ۲

د خاطر رنګین غزل ته حیرانیږم
پهٔ دې خبر خبر کښې څهٔ دی چې لهٔ خاورو

۱ مترلیمنه او دیوان کښې د لهٔ پهٔ ځاې صرچرته ( د ) لیکلے شوې چې صحیح نهٔ دے
۲ مترلیمنه او دیوان کښې غلطه مصرعه داسې لیکلې شوې ده :
دیوال کړے چې اوبهٔ دے چې لهٔ خاورو .



خوړ به نهٔ ژړېږمه پهٔ سرو سترګو
تېروتمه ستا پهٔ لیونو سترګو

مهٔ توروه تورې بلا سترګې دې
پام چې درته نهٔ شي د سپېرو سترګو

عمر له مې کار وکړ د ژړا سره
وهٔ مې کورې چا ته پهٔ معصومو سترګو

بس کړه د خاطر سره پخلا شه ته
خلق ډېر عزت کړي د نېو سترګو

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



نور به څهٔ یوسي زما په تورو سترګو
زړهٔ دې وړے لا پخوا په تورو سترګو

کهٔ پروا کړمه خو زهٔ به دې پروا کړم
نور دې څهٔ کوي پروا د تورو سترګو

وهلې سترګې مې د سترګو په هلو ورشي
کړم دې داسې وارخطا په تورو سترګو

کړې مې سترګې ستا د سترګو قدر دومره
ور به یې نهٔ کړم د دنیا په تورو سترګو

زهٔ خاطر دې د کجلو سلائي وے
ښکلولے دې اشنا په تورو سترګو



بیا دې سهي نهٔ کړم په هغو سترګو
یو ځلې هم هغسې په مړو سترګو

نهٔ مې شته په نورو سترګو شک د زړهٔ
بس خو زړهٔ مې غل دے ستا د غلو سترګو
زهٔ یې کړم آشنا لهٔ شوګیرو سره
یو مې پل خوبونه ستا قدر سترګو
نهٔ یم چې د زړهٔ په سترګو تا وینم
چار نا لیدلې په پندو سترګو
خپل مې واړه بد راځي په سترګو کښې
ستا د پاره خپل شوم د پردو سترګو
ستا دې اوبدو وروځو ته حیران یمه
څومره ښکلې ښکارې په دې دو سترګو
څهٔ دے دا زما سترګې خو بدې شوې
ته خو را ته ګوره په دې ښو سترګو

څومره تږېنه وُبڼې دي حیران یمه
سترګې د خاطر ستا لهٔ مړو سترګو
ریډیو پاکستان پېښور (مسودات)

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

ما د وصال په شپه کښې ټوله شپه سحر لیدلو
حال مې د ځان لکه مجنون هسې او تر لیدلو

دریغه چې شپه وه د وصال خو تر قسمته پورې
زه په دیدن نه مړېدم چې مې دلبر لیدلو
بیا د سحر غمونو هله لېونے کړمه زه
سرې ماښام مې نمر اوچت د غره په سر لیدلو[1]
نه یې لا هیڅ په سرو لبانو باندې نه یمه پوه
لا په اسمان مې چې د لمر په ځاې قمر لیدلو
په تصور کښې مې د ځان سره کول فکرونه
په هغه شپه چې به غماز جوړې محشر لیدلو
چې مې را یاد کړل هغه تېر د جدائي وختونه
له غمه ډک مې ترهغې پورې اختر لیدلو[2]

خاطره بس کړه د وصال طمع پیدا شوه د یار
وائي ربار چې مې جانان دې مسرور لیدلو

[1] منزل‌ته اوديوان کښې چې دغه اوړې معنی مصرع داسې ده:
د ماښام سر وے نمر مې اوچت دغرهٔ په سر لیدلو

شوق مې ستا د ډېرو پېغورونو سره لاړلو
زور مې شو اوبه د ستمونو سره لاړلو

خوبونه مې اننگی شول د ښهو ازغي مې هېر شول
زېړه را نه بلبل شو د گلونو سره لاړلو
وېرې مې کړې تېنگې خو اخر مې اوښکې لاړلې
تاو د محبت د ارمانونو سره لاړلو
سترگې مې نیولې ستا د مینې په کاروان کښې
لاړلو نظر مې د گردونو سره لاړلو
زه تر ښه لوگے شم چې به څه سوے تر ې راشي
زړه را نه د یار د دیدنونو سره لاړلو
چرته واسې یار شته لکه زه په انتظار یم
ستړے د سبا هم د فکرونو سره لاړلو
چرته به زما لېونے زړه پرې مشغولېږي
ستا د تورو زلفو د ځنځیرونو سره لاړلو

ښه به دې مهار د عشق نیولے وې خاطره
ژوند د رښتې هسې د وختونو سره لاړلو

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



باد شو مه د عشق د ګرنګونو په سرونو
په هوتم دلبرو وطنونو په سرونو

د بڼه چې د ستا د اننګو خوله هم نه وي
پرځي ته چې ګورم د ګلونو په سرونو
ستړګې به زما شي اخر غرقې په ژړا کښې
ګرځي چې کشتۍ د ګرداونو په سرونو
مات په ما نظر کړه چې سپهر ستړګي حق حيران شي
دود چې کړه د لمبو د محلونو په سرونو
هسې هم ايرې يمه د باد سره الوځم
سکون مې څله نيسي د زخمونو په سرونو
ځان به خاورې نه کړم غم د يار ه که څو پرېشي
خاورې دي پرتې وي د تېغونو په سرونو

بنګلي به سر تيټ کړي ياره ستا په تصور کښې
د هر خاطره ستا د غزلونو په سرونو



څو به سره يت دواړه په زړه ذره ذره يو
که دا دي خوښه نه ده چې هرڅا ته دي بنکاره يو

يو دغه بېلتون دے چې عزت مو په کښې پرېږدے
څو به په کښې وايو چې مدام دي دربدره يو

ته زما په سري ے شمې نه ستا په انتظار کښې
هر کله چې وي نو مرۀ به دواړه په يو شپه يو

نه به کله وايم که دنيا په بله واوړي
ګرځي دي نو د خلق مونږ په خپله تماشه يو

يوځ به مې سوګند شي په کښې ود څو د يار
اوس به دواړه څه رقيبه تورې په اوږه يو ے

راشه مروره چې مې شک له خاطر وځي
وايو به رښتيا چې دا په څه سره خفه يو

۱ـ ديوان او منزل لرونکي سرى په ډېرو اتکلونو اتلانو شرکيږي مې معرکه کې ورزنه او ځا ستي کوي
ګه دا شمس منزل لرونکي [illegible] .

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ځکه مې شپې په سوز بېدو تېر کړه
ځې مې پېدن په مستېدو تېر کړه

زما خو ستا منزل مقصد دے اشنا
ژوند مې له ټولو مرحلو تېر کړه

دلسوزی مه کړه تپوس همدمه
ځکه مې عمر په لمبو تېر کړه

زما دا تېر ژوندون زما خو نه دۀ
ټول مې د ستا په تلو راتلو تېر کړه

پار بیا د چاله ترورو زلفو نه کړم
یو ځلې مرګ را باندې دو تېر کړه

لکه د شمعې بېکا ستا په طمع
ټول انتظار مې په سلګو تېر کړه

زۀ چې سپرلی ته ورځم نۀ دۀ یمه
ما د دیدن په رنګینو تېر کړه

ژوندون د عشق لمبې ژوړې غځۀ دی
سر مې له وار و ګېرنګو تېر کړه

اشنا د ستا د ښکلی مخ په خاطر
ما خپل خاطر په سرو لمبو تېر کړه

ښه شوله وېره چې انکار دې وکړو
زما د وار په عمر کار دې وکړو

خلق چې ښه ولې ګوري ورته
تا چې مخ پټ کړلو ګذار دې وکړو

د زړۀ زخمونه مې بیا هله شماره
کۀ د دې خپلې خندا شمار دې وکړو

زۀ لا خځۀ نۀ وایم چې داغ مې په زړۀ
تۀ لا خفه یې چې دیدار دې وکړو

خاطره زۀ لۀ تا نه چا وېلې یم
وار به دې راشی کۀ لېو وار دې وکړو

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خیر نهٔ وم دې ثواب او دې عذاب ته
خو تصویر وم ستا په دوو ځوکښې محراب ته

ما وې تل به خوشحالي وي ستا په عشق کښې
اوس مې نهٔ پرېږدې غمونه اشنا خواب ته

ستا د سرو شونډو ارمان خو هله راشي
کله کله چې نظر وکړم ګلاب ته

یو ذره یې لرې نهٔ کړلو د مخ نه
فکر یوړم د اشنا د مخ نقاب ته

نور یادونه مې په یاد کښې را نه هېر شول
یو دوه نهٔ راځي چې کښېنمه حساب ته

وایي زړهٔ به زما هم داسې تنګ تور وي
چې خاطر وکړم نظر سرې کباب ته



زهٔ یم حیران د دنیا سترګو ته
ګوره کتے نهٔ شي د چا سترګو ته
ستا د ښکلو سترګو بلا واخلمه
مخ دې کړمه سترګو بلا سترګو ته
راشه اهو چشمه لیونے شومه
سترګې مې صحرا دي د ستا سترګو ته
ستا چې خندنو سترګو ته ګورمه
رامې شي له وړه ژړا سترګو ته
راخو دې په خپله اشنا کړې دي
خله مې نو دېل کړې اشنا سترګو ته
ستا خندا برېښنا وه د فلک غورځندې
بیا را نغلله حمله ژړا سترګو ته
تا جوړې اراده دې د راتلو کړې دي
ښکاري مې رنګینه فضا سترګو ته

نن خو مې خاطره ستا خاطر وکړو
بیا به نهٔ راځوې سبا سترګو ته

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ته چي رقيب ته اشارې کړې دا د مل نښه ده
ته چي دا غلي غلي ګورې دا د غل نښه ده

کله يقين کړمه په دا چي مرور يې له ما
ما ته معلومه ستا په سترګو کښې د چل نښه ده

ته چي تپوس را نه مُدام کوې چي څه لټوې؟
زه چي دا لاس په سينه پروم دا يې اول نښه ده

خاطره تا چي بيګا خوب کښې د هجران ليدلے
يقين مې دا دے اخري ستا د اجل نښه ده



خوږه ترا خه شي د خوږو وصلې نامه پاتې ده
د بدو شپې دي او د ښو مسې نامه پاتې ده

ته را نه هېر يې خدايه هر څه په دولت کړمه
د دعا کانې د ښېرو مسې نامه پاتې ده

په سترګو ژړو او په زړو کښې سره خاند واشنا
مه کړه ګيلې د ژړو بدو مسې نامه پاتې ده

په دېره مينه کښې چي زه او ته پرې نه پوهېږو
د عقل ورځو او د شپو مسې نامه پاتې ده

چي په پلو کښې به يې په زړونو باندې اوسکو
د ستا د عقل انګر مسې نامه پاتې ده

سبا به وائې چي د خداې په خاطر ناشه لږه
په ما خاطر کښې د زړندو مسې نامه پاتې ده

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



بېګا ستا په انتظار ې مسې ستهې توله شپه کړه[1]
خندل راپورې ستوري چې سپوږمۍ راته ګیله کړه

ورته سر په زنګانه وم د وصال تږی ته غلی
ما به ګله کله بنه کړه چې بېلتون راته قصه کړه

شو په منده نظر ستهې چې هر ستوری به جلب کړه
چې د ستا په لور به تللو هغه ستوری به مزه کړه

ودسره به یې ترڅو وچری کڅ شپه وچری د خاطر نه
په ترلا ترلا قدڅ شی خو وعده یې ستا پوره کړه

۱ صحیح مصرع داسې په کار ده : خندېدل دا پورې ستوري چې سپوږمۍ راته ګیله کړه



لېږ د نقاب لرې کېدل زده کړه
زما په لوری سم کتل زده کړه

په جار خندا به رقیبان پوهه شي
پټ په لبو کښې مسېدل زده کړه

اے زړه چې سم دا واري ونه چوې
تکه تنها که ترکېدل زده کړه

ته ما خاطر ته نصیحت مه کوه
ناصحه مانه پوهېدل زده کړه

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
(c) ketabton.com: The Digital Library



○

ما په شوګير تا په خوبو تېره کړه
شپه مې سپوږمۍ ته په ګيلو تېره کړه

بېګا رانغلې شمع ووېه اشنا
ما ټوله شپه په دربدو تېره کړه

مينه د ستا زما نور زړه سوزوي
مسې لمبه دې په اېرو تېره کړه

دا ما خاطر ستا له خاطره اشنا
د هجر شپه مې په سلګو تېره کړه

○



○

رقيبه په خبر راغلې د اشنا خبرې کړه
پرېږده نورې نوې بس هم دا خبرې کړه

خو به پټې سترګې زه د اوښکو کړم
ګلفامه راشه راشه دغه بيا خبرې کړه
نورې دا غمژنې د جفا خبرې پرېږده
کله کله يادې د وفا خبرې کړه
سوډ مې کله کيږي د ساقي په پيمانو
د ټولې ميخانې او د مينا خبرې کړه
نم مې شو د سترګو سپين د اوښکو په سيلاب کښې
بس نور شه راته وايه د خندا خبرې کړه
په خود نه يم تپوس راځنې مه کوه ددې
اشنا ما لېونې ته د صحرا خبرې کړه

خاطره چې ونه کړې د بل چا د غم سودا
د يار د تورو زلفو د سودا خبرې کړه

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



یا د شرابو نه نشې وباسه
یا خو تربې زما له خلې وباسه

یا مې د زړهٔ رازونه مهٔ لټوه
یا دې صحرا ته قافلې وباسه

څهٔ لټوه تنګه دنیا که شوه ربه
زړې د ژوندون لا مخې شپې وباسه

د آشنا یاده نور مې مهٔ تنګوه
لهٔ دې سراې نه قافلې وباسه

اور د خاطر د زړهٔ پهٔ خونه شو بل
سترګې د سترګو نه مې مړې وباسه



د سحر باده دا ارمان یوسه
یوسه پهٔ لوری د جانان یوسه

راشه ارمانه دا ارمان دې لرم
کهٔ مې خو ما سره د ځان یوسه

چې دې د حُسن چمن تربې نهٔ شي
راشه د اوښکو مې باران یوسه

تهٔ چې مسکې شوې زما زړهٔ ته بنګلیه
دا د غمونو ړک جهان یوسه

خوبه زر راشه دا آشنا سره
دومره خو راشه دا چشمان یوسه

لې د خاطر کړه شمع رویه خاطره
بهار دې راوله خزان یوسه

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

لکه ګلی لهٔ مسېدو ډکه شه
بانېهٔ دا نیغ کړه لهٔ اغزو ډکه شه
چې ستا خوږو زلفو ته نېغه نهٔ شوه
زما څنګل لهٔ زولنو ډکه شه
کهٔ يې هر څو درسره فسد نيولې
خو زما مينې لهٔ پېښتو ډکه شه
چې يې ژوندون لهٔ رنګينونه ډک شي
بيا په غصه کښې لهٔ نشو ډکه شه
بس پښېماني لهٔ زړهٔ نه وباسه نن
وېرېږه مه لهٔ اشارو ډکه شه
چې تا يې هم کړېدان ته خېرې وړي
هم ستا کوڅه يې لهٔ تېرتو ډکه شه
بنه دي زړهٔ تش کړه چې بيا بيا نهٔ وانې
فضا زما لهٔ اسوېلو ډکه شه
بد خواه چې لاس په سينه کښېږدی درته
دخېبر څانګې لهٔ اغزو ډکه شه
خاطره يار دي په خېبر کښې اوسي
تېوله دره لهٔ سپېلنو ډکه شه

○

○

ستا لهٔ سپينه مخه زار زما زړګے شه
هم دا ستانه سپېلنے او هم لوګے شه

ستا پهٔ ژبه باندې هره ژبه خوند کا
اے اشنا يا اپرېدے يا پېښورے شه

زهٔ او تهٔ دچا ژړا او خندا څهٔ کړو
زما او ښکې دي باران ته پسرلے شه

اوس د ګل غځي تهٔ لرې شه رقيبه
يا په څپله باندې ګل شه يا ازغے شه

زهٔ خاطر دي نور خاطر کوه نشم
اے رقيبه کهٔ پوهېږې نو سړے شه

○

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



د هجران په شپه ډيوه په لاس کښې راغله
خداې خبر چې چرته تله په لاس کښې راغله

رقيبان خو دې اوس ټول راله راټېر شي
چې يار راغے نو وسله په لاس کښې راغله

چې مې صبر اُميد دواړه پسې خوړ کړل
چې له ځانه خبرېده په لاس کښې راغله

چې د سترګو د سرو شونډو او د زلفو
تصوير يې يو ځېره په لاس کښې راغله

چې په تلو کښې شوه مسکې نو بيا به راشي
اے خاطره بس راځه په لاس کښې راغله

ترخه ته مې زړه کېږي ګله ګله
په خوږو سترګو مې کېږي ګله ګله

د دردمندو نظر هغوله په کار دے
چې دلاسه دې ښه کېږي ګله ګله

چې اشنا د چا نه ورک شي موندې نشي
پسې ځان هسې ورکېږي ګله ګله

ښکاري يار سرود نۀ دے اے خاطره
په لمبو کښې چې او سېږي ګله ګله

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ستا د ښکلي مخ شمع چې مې ده شوله
جوړه په محفل کښې نوره شپه شوله

راشه لنډه واوره د اُلفت قصه
بس دے نوره نه دهٔ کښې چې نه ده شوله

ډېرې وعدې ښې دې لنډې لنډې
اوس دې هرېو کال راته وعده شوله

تا چې د خاطر خاطر ونه کړلو
ښه شوه ډېره ښه شوه اشنا ښه شوله



بیا به سره ګورو اوس ځواني ده درومه درومه
څوک کړي دومره غم څو دیواني ده درومه درومه

اوس ته ایله راغلې چې بس وخت د څنکدن شو
بیا راته ګرانیږي آساني ده درومه درومه

ولې یې چې بازار کې د ښایست دے ګرم شوے
هر شے په کښې ختلے دے ګراني ده درومه درومه

نهٔ او ته خاطره نور په ځندهٔ سره خوابهٔ یو
مینه څو هم دا پښېماني ده درومه درومه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

شکر چې نهٔ هم ستا د ښېرې شومه
اوس دې چې نهٔ ښکلیه د کوڅې شومه

نهٔ به په ځان څهٔ وکړم چې راشې ته
واړه دې په طمعه کښې ذرې شومه

دومره درنـزدې یم که څو لرې یم
لرې به شم تو رکهٔ درنزدې شومه

نن خو دې خاطره چې سبا تهٔ وے
پوه دې نهٔ د مکر په وعدې شومه

○



○

کله چې په فکر کښې د ستا شمه
لاړ شمه لهٔ ځانه خو بیا راشمه

ته که لرې ضد نهٔ خو پښتو لرم
اوس د ر سره څرنګه پخلا شمه
خیال او تصور ته به سلام وکړم
نهٔ که د خپل زړهٔ په تماشا شمه
تاو چې شي د زړهٔ نه ستا د مخ لمبې
کړم چې بستا د زلفو په سودا شمه
نورې دې د مینې لارې سمې کړه
خدائې خبر چې کوم پلو خطا شمه
عشقه راسي ځاې لره دې راو ستم
اوس به نهٔ د ستا نهٔ د دُنیا شمه
نن دې د پرون وه د راتلو وعده
نن څنګه په طمع د سبا شمه

وړې غریب نیولې راکتلې دی
لږ به خاطر ته په خندا شمه

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



دلاري خاوره شرم د ښېرو ځني وتلے يمه
اشنا په تا پسې له تلو ځني وتلے يمه

د آشنا مخه نور مي سرے ته وسے له شي
نه خو د اور او د اوبو ځني وتلے يمه

په ښه ښېره به دې نه لس پېر نا ښه مه اشنا
نه يې اوس پوه دے د ښېرو ځني وتلے يمه

تا خو به نور راته خندلي وي چې داخله وش
كه په ټېلو دي د كوڅو ځني وتلے يمه

رغه داغونه مي دي بس دومره خاطر مي وش
نور د كړلو د كلو ځني وتلے يمه



تو به خټگه تېرېږي په هوښيار باندې وختونه
نا پوهه هسې تېر كړل په قرار باندې وختونه

هيچېرې هم سخيان خو د سبا غمونه نه كا
له شومانو نه تېرېږي په خروار باندې وختونه
دا تېر وختونه پرېږده له انكار سره چې تېر شو
ته راشه نور دې سم كړه په اقرار باندې وختونه
نه دے هسې كرم چې څوک په غم كښې درونډ ښكارېږي
په هرچا باندې تېر شي په خپل وار باندې وختونه
گوره د مغرو په نهر كښې نوره سودا نه وك
تېر چې شي د ښكليو په بازار باندې وختونه
ټكه باد هسې تېرېږي وخت په روغ او په بيمار
و در بېږي نه و در بېږي په بيمار باندې وختونه
د مغ دې تصور كرم خټگه مغ مي داسې تور دے
خبر نه يې كهل تېر مي په انكار باندې وختونه

ما خټگه به لتهون كړے د دنيا له غم نه خلاص يم
خاطر ما ښكلي تېر كړل په خپل يار باندې وختونه

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ما په مثال لکه پتنګ وګڼه
ته دې د شمعې غونډې رنګ وګڼه

که مې کوثر شو لو نصیب د دیدن
بیا مې شهید د عشق په ننګ وګڼه

زمکه بستر وی لېمنو ته مُدام
زړګیه ته یې هم پالنګ وګڼه

لکه چې خوږه ستا غمونه دي وړې
پراته مې تهول په زړګی زنګ وګڼه

خاطر کچکول د ګدا واخستلو
اشنا دیدن په خان قلنګ وګڼه.



د ستا د خولې چې فیصله ماته شوه
نوره د زړه مې حوصله ماته شوه

شونډې دې ستې د پېدلې نه وې
په زړه دې بله څه داتله ماته شوه
نو دې ساقي څه جُرم نه دے کړے
تشه له لاسه مې پیاله ماته شوه
که به عوض کښې یې هر څه غواړې ته
دا مې په برخه د سپېده ماته شوه
لاس مې یې واکه چې جاسوسونو ته ځے
ما بنام خونه دے چې دوړه ماته شوه

خاطره پرېږده د درو غو توبې
نوره زما او ستا ناغه ماته شوه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


نور زهر په خوږو کښې دافسون مه راکوه
دا بس دے اشنا نور دا زهر چاودون مه راکوه

ته تل کړه ستمونه خو په خپله اے اشنا
سزا د رقیبانو په لمسون مه راکوه

چې څو وکړې وعدې نو هومره لاشې یې وعدې
دا دې وی در پاتې خو زبون مه راکوه

که زه چرې په خود وے نو په تاشیدا کېدم
په سترګو ماله یار بیا د جنون مه راکوه

هر څو که زه خاطر د اشنا اجل ته مخ شوم[1]
دکوږ مبارکی خو په ژوندون مه راکوه

[1] د دیوان او منزل نقل کښې مصرع داسې ده: هر څو که زه خاطر د اشنا اجل ته شوم

ته څو وایه زه به خفه کړم نه کیږه لیونیه
خفه به کړم او خفه به نه کړم نه کیږه لیونیه

تا څو وې آبادی پرېږده ، ما څو پرېښوه دلته خفه زی
په صحرا چې ګرځېده کړم نه کیږه لیونیه

چې اشنا کړی سترګې پورته بانه ستا په لوړ دروي
زه یې کوم طرف کا بره کړم نه کیږه لیونیه

زه خاطر در ته حیران یم چې په خفه باندې راوین شې
چې په خفه دې اوس وفا کړم نه کیږه لیونیه

[1] منزل نقل او دیوان کښې (دوتکه) دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ځیګر مې شو کباب په لمبو اور ولګېدهٔ
په ما دې یک تنها کهٔ په هر لور ولګېدهٔ

چې لرې در ته نزدې شوم د وصال په تمنا
د ستا د ګنګرو کانو په ما شور ولګېدهٔ
ځیګر مې تش ګوګل دے راشه وکړه تماشه
د سوو فریادونو تنګ تکور ولګېدهٔ
زړګیه اُمید لنډ کړه پس له دې نور له وصاله
بیلتون دې ځوانی مرګ شی اوس یې زور ولګېدهٔ
سپین مخ دې را ښکاره کړه د نقابه تکه نمر
ور بل دې پرې د ورېځو غونډې خور ولګېدهٔ

خاطره خدای خیر کهٔ بیا دیدن وکړې دیار[1]
چې بیا د غمازانو داسې زور ولګېدهٔ

اشنا وې دا لړګی دی د خاطر داسې بلو
رقیب وې ما زېګر شو په تنور[2] ولګېدهٔ

۱ـ منزل نصاب دیوان خاطر کښې داسې دي: څه خاطره خدای ګړ دیدن وکړې دیار
۲ـ منزل نصاب او دیوان خاطر کښې "تنور" لیکلی شوې ده، دې معنی بدلېږي او قافیه غلطېږي



لوے دریاب د مینې نهٔ شی په وارهٔ زړهٔ
شومه یاره بیا د ستا غونډې په نهٔ زړهٔ

چې په خلهٔ کوی یو او په زړهٔ بله
د هغهٔ سره به مینه کړې په خهٔ زړهٔ

سوی د رنګ ته مې لږ وکوره دلبره
ما نیولے ستا د حسن په لمبه زړهٔ

بېګا ستا په انتظار کښې شمع روبه
د هر ستوری سره پورته مې خاتهٔ زړهٔ

بیا یې خوب واړه تړیونه او هیبت شی
د هجران چغې چې وشی په وُدهٔ زړهٔ

یو غم نهٔ دے چې یې وکړې اے خاطره
دېر غمونه دی کوه یې په ساړهٔ زړهٔ

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

داسې بله شپه به په نصیب سره راځي
په عمر کښې راځي خو د رقیب سره راځي

خوشحاله وی په غم کښې حبیب[1] د داره شاملم
را دروی خوشحالی دې د حبیب سره راځي

څوک چې په تندی یې د ازل لیکلې نه وی
دومره زحمتونه د غریب سره راځي

خندیږی او ګډیږی سره ګلونه د صبا
نغمې چې د بهار د عندلیب سره راځي

نور خلق که رغیږی په دارو د طبیبانو
خاطر ته مرضونه د طبیب سره راځي

○

۱ـ متن لیدنه او دیوان خاطر کښې الفاظ هم ، نشته [illegible] مصرعه [illegible] کړی
۲ـ [illegible] ، ترکیب مصرع یې معنی کړی



○

عکس د ستا زما د سترګو له زنبار نه وځي
د زړه له کوره مې بېلتون په یو ګذار نه وځي

داسې ستا کوڅې له زه د دوږخ ځان په خیال نه درځم
چې تاو را تاو نشی د ستنې سوم نه تار نه وځي

اے شمع دو به راشه نور دغه ضد و نه پرېږده
چې په مینه دې هره شپه د انتظار نه وځي

د ستا د عشق په سمندر کښې مې ژوند تېرېږی
چې په رښتیا خو سمندر وی د انکار نه وځي

شپې د اوښکو د خاطر پسې ایله زیاتې شوې
ښکاری د ستا د ځوانۍ اوبه د شو بهار نه وځي

○

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې کتے درته لاړ په هجره نهٔ شم
دستا سترګې مې کوځې د زړهٔ نه وځي

خدای دې هغه وخت رانهٔ ولي صنمه
چې مې ستا د دیدن شپې د زړهٔ نه وځي

کهٔ د سترګو نه مې وځي دستا سترګې
ودې وېل کهٔ مې جرګې د زړهٔ نه وځي

موده پس سره یو ځای شو په محفل کښې
ستا بانه مې ښې نېزې د زړهٔ نه وځي

جمع زړهٔ لره اشنا چې زهٔ دستا یم
چې ته زلفې مې خورې د زړهٔ نه وځي

د مخ لرې کړه پلو زهٔ دې لوګے یم
چې مې ستا د مخ لمبې د زړهٔ نه وځي

تر هغې به دې رقیبه زړګے وچوي
چې خاطر د معشوقې د زړهٔ نه وځي

زړګیه تا وې چې دردونه څهٔ دی
دا په ګوګل کښې دې تړکونه څهٔ دی

زړهٔ په بهو مې وله څوک یې وینی
وهه وهه دا سترګکونه څهٔ دی

بس خر کهٔ مخ دے نو ګلنامه دے ستا
دا د خورشید قمر مخونه څهٔ دی

نهٔ ده اسانه اشیانه مې د زړهٔ
لا د ستم دې تندرونه څهٔ دی

دستا منزل دې دومره نور لرې شی
ګوډو ړندو ته تیندکونه څهٔ دی

کهٔ مې زړې کا نور نو لا به بښهٔ شی
ستا په فضا لا وسعتونه څهٔ دی

چې مرور وی یو ساعت یې ګوره
چې وی پښلا نو بیا ګلونه څهٔ دی

چې مرور یې پتېږدے څو نهٔ شې
ما ته په غلا غلا دیدنونه څهٔ دی

دا په خاطر ګلفامه ستا دشونډو
وی په خاطر دې پرهرونه څهٔ دی

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

چې پښېمان نهٔ شې پهٔ بیا کښې څهٔ دی
پرېږده راوګوره پهٔ دا کښې څهٔ دی

زما پهٔ اوښکو کښې خندا ده وستا
یاره دستا پهٔ دې خندا کښې څهٔ دی

شمعې د ن شپې نه سبا جوړه
سبا به مړه وې په سبا کښې څهٔ دی

زړهٔ مې يې ستړے پهٔ ټوپونو کړلو
ګله دا ستا پهٔ دې ګړوا کښې څهٔ دی

خاطره ته چې ماته نهٔ شې کتے
لږ ده مې پوه کړه چې پهٔ ما کښې څهٔ دی

ګله دستا د خندېدو شپې دی
زما د اوښکو د شپېو شپې دی

پهٔ دا لنډ تنګ وخت کښې مې حال وپرېښته
دا مې د ژوند د تېرېدو شپې دی

پهٔ تا اختر اوس د ځوانۍ راغلے
دا تورې شپې د پسرلو شپې دی

د بخت سپېږې ته به راځې ګله
اوس مې د ژوند د محفلو شپې دی

دا زهٔ خاطر درنه تېرېږ کومه
د بېلتانهٔ دې نورې څو شپې دی

خاطر د وینو غرغرې وکړلې
دا مې د ژوند د ختمېدو شپې دی

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



د ستا په غم کښې خوشحالي پټې دي
په دې زندان کښې ازادي پټې دي

زړه که ته غواړې نه لېونے خو نه یم
د مخ سره زلفې رسۍ پټې دي
په خوږو زلفو کښې راګوزې په چل
په دې ځنګل کښې دې هوسې پټې دي
په کومو سترګو به بیا بیا درځمه
په اشارو کښې دې تهکې پټې دي
خاندې چې جوړې شول د زړه زخمونه
ایله په وینو یې خوګې پټې دي
ځه شو په خوله چې دې رخصت راکړو
ستا په نظر کښې تسلي پټې دي
په سرو سرو ګوډم تورو سترګو ته دې
چې په کښې څه بلا مستي پټې دي
ستا له سینګاره یې ځواني شه لوګے
وهرې په خاورو کښې ځواني پټې دي

د ستا په خیال زما خاطر شواېرې
خو د اُمید په کښې سپرغۍ پټې دي



زما چې دا مدام دغه دلبر ته سترګې دي
نورې نه وینمه سترګې که هر چرته سترګې دي

له هره دره ورو تلې سترګې مې آشنا
که وینې دي که تږې خو دې در ته سترګې دي
نه تل را ته مرسېږه په دې عمر مه شه جوړه
زما خو هم ګلنامه دې پر هر ته سترګې دي
د مینې سمندره سترګې غرقې یې کړې تا
وتلې یې له تا کله بهر ته سترګې دي
په اوښکو یې کړې ستړې وړه ونه یې د عشق
که ګل یې د مخ رڼې خو ثمر ته سترګې دي
را وه چې خبرې بنده وړه په وخت سترګه د سبا
زما خو هم ختلې دې سحر ته سترګې دي

خاطره که خوشحالې نه زړه له تا د یار دیدن
نه نه شم ورکتلے زما نمر ته سترګې دي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



نن خو ما ته هسې ښله دنیا ښکاري
تا چې نهٔ وینم نو خله دنیا ښکاري

تنګ کوګل یې دنیا شي چې ته یاد شې
بې تا تنګه لا کوګله دنیا ښکاري

بې له ما نه هسې ګله صحرا ښکاري
بې له تا نه هسې ګله دنیا ښکاري

چې په هجر و وصال نه پوهېږم
دا وستا ده که مې خپله دنیا ښکاري

هېڅ خاطر دې خزان ونهٔ کړو خاطره
شنګه خړه او بې ګله دنیا ښکاري



زړهٔ مې کهٔ هر څو رانه هر څهٔ غواړي
هېڅ نهٔ دے خبر چې هر څهٔ زړهٔ غواړي

اے ماشومه زړهٔ ته رانه ښهٔ واخله
هغه رانه غواړې چې ما نهٔ غواړي
تل به بې پروا وې ګړنګونو نه
ځوک چې خپل منزل ته رسېدهٔ غواړي
زړهٔ او د نظر ځنې دې خلاص کړمه
نور دې لا ښایست راځنې څهٔ غواړي
هر سړے دستا د دیدن وړ نهٔ دے
راځو هم زړهٔ غواړي هم لېمهٔ غواړي
خبر نه کهٔ ذهیر شوم ځان ته ګران شومه
بد هم په کښې وي چې ځوک یې ښهٔ غواړي

خلق پرې تېر شوي له سرونو نه
ځلهٔ ورنه خاطر په تشه ځلهٔ غواړي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زما زړهٔ او د ستا سترګې سره پېښې[1]
نور به بد کا چې پهٔ دې منع کېږي څاڅېږي

کهٔ خبر نهٔ راکوې خبر دے ښېړې مهٔ کړه
مئين زړهٔ مې ستا له مينې نهٔ صبرېږي

کهٔ دې غم په ما انبار وي پروا نشته
د کلونو لاندې څانګه نهٔ ماتېږي

چې مې ورتې اشنا وائي خفه شې؟
زړهٔ مې ښهٔ شي په ګوګل کښې نهٔ ځائېږي

زهٔ خاطر داسې هيبت ستا د راتلو کړم
لکه پانه چې پهٔ ونه کښې رپېږي

[1] پوهېږي



ما وې نن به مې زړهٔ وچوي خوږ د ردونه دې تېرېږي
پرېږده څهٔ کړې تپوسونه خو وختونه دې تېرېږي

جوړېږې تا اراده کړې د راتلو زما پهٔ لوري
نن مې سترګو ته د وړاندې مثالونه دې تېرېږي

جانانه زهٔ چې زغملے شم کهٔ وي د ستا د لاسه
هر څو کهٔ ستمونه طوفانونه دې تېرېږي

ستا د حسن پهٔ بڼا کښې يا ره نور چې رنګينۍ نشته
د دې[1] هر پهٔ خاطر باندې غمونه دې تېرېږي

[1] متن لرنه دره ديوان کښې د الفظ نشته چې مصرع يې نو معنٰی کړې ده

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



څه چې پرې په ما زما د يار سره جوړېږي
خېر دے زما زړهٔ د انتظار سره جوړېږي

کله په يو رنګ شي بيا سل ځل په بل انداز
سل ځلې ديدن د خپل خپل وار سره جوړېږي

وګوره واړهٔ ځنګه په سترګو کښې اقرار کا
بس خو د يار شونډې د انکار سره جوړېږي

څهٔ په خاطر کېږي نن د ښکليو په صفت
هغه وخت راغلے دے چې دار سره جوړېږي



د وخت د ګذارونو چې داغونه نهٔ جوړېږي
زما سره سپرليه ستا ګلونه نهٔ جوړېږي

يو ځلې چې ودان کړے ستا تصوير را له اشنا
هم هغسې زما هغه فکرونه نهٔ جوړېږي
راضي شه د يار غمه د دُنيا د غم سره
يو کور کې دوه زړهٔ په کښې برجونه نهٔ جوړېږي
اے زړهٔ تهٔ را ته وائې چې يار راشي څهٔ به کړو
لا خو به ځنې وړاندې تعبيرونه نهٔ جوړېږي
زهٔ خو چې اشنا لا د پخوانه لېونے وم
د عمر لېونو ته زنځيرونه نهٔ جوړېږي
زهٔ تا ته په قدم کښې او تهٔ ما ته وې ولاړه
زما او ستا په منځ کښې پېغورونه نهٔ جوړېږي

خاطره يو ورېښ نهٔ ده نن زړهٔ جوړ او سبا وران
چې وړې کوي غمونه هغه زړونه نهٔ جوړېږي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



نور به ایله څهٔ د لېونو نه پاتې کېږی
ګونده چې یو ګړ دې چې یې د پښو نه پاتې کېږی

زړهٔ مې چې اشنا د ستا د تللو نه پاتې کېږی
خود به راته غم د خوشحالو نه پاتې کېږی

پیغې مې د زړهٔ د لمن ورڅ پېدې لاړې
غم دې په کښې د هر شي د نیولو نه پاتې کېږی

نهٔ بلېدهٔ صبې اور دمغ دې. دا مې زړهٔ وهٔ
ګونده چې به سکون د سرو لمبو نه پاتې کېږی

تا چې په کړو وړو د عشق بو تلم زړهٔ کیه
څنګه سې لارې د پرندو نه پاتې کېږی



ورې به مې ګواه سبا دا سپین سپین دېوالونه
دغه تور لوګې چې د ډېوو نه پاتې کېږی

یاد مې د دنیا لهٔ یاده مخکښې مخکښې سوې
څنګه به د ستا د یادېدو نه پاتې کېږی

باده د بېلتون چې مې په لوړې بیا را نهٔ شي
سترګې مې د یار د تماشې نه پاتې کېږی

زړهٔ له مې دارو دې او کجل مې د بصر دې
خاورې یې خاطره چې د پښو نه پاتې کېږی [1]

بیا راغلله شپه او ځلند ستورې یار را نغے
بیا به مې خاطر ښ د خوبو نه پاتې کېږی

○

---

[1] د دیوان کښې مصرع داسې ده: خاورې دې په خاطر چې د پښو نه پاتې کېږی

[illegible]

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

سترګې دې کړه برندې چې وختونه وارخطا شي
زلفې کړه پرېشانه چې ګرد ونه وارخطا شي
څو به کړې وعدې راته دغسې او د صبا
ډېرې شپې وعدې کړه چې څو به ونه وارخطا شي
زهٔ در ته لاړه په محفل کښې کتلو نهٔ شم
سترګې چې راواړوې نو زړونه وارخطا شي
عقله چې يې ووينه زلفې تار په تار
بس څو يو ګرېوان ته مې لاسونه وارخطا شي
دومره اې زړګيه ! ځان ته مهٔ بښکلوه بښکلي
وبه چوې لړ واره کهٔ دردونه وارخطا شي
غلهٔ سره د مينې په محفل کښې چې يو ځای شي
زړونه وارخطا شي، چې رنګونه وارخطا شي
مل ئې کړه د زړهٔ مې کهٔ په خُلهٔ نهٔ بيانېږي
داسې ادا وکړه چې دا دونه وارخطا شي
څکه زهٔ خاطر دې دومره وصف کړم اشنا
پرېږده چې د خلقو در ته زړونه وارخطا شي

مياشتنۍ ،، ژوندۍ پېښور اکتوبر ۱۹۵۹ع

په ارمان د نادانۍ شي چې هوښيار شي
خوشحالي او خوبې ورک شي غم يې کار شي

تخت و تاج او بادشاهي يې په کار نهٔ وي
په ارمان د روغ صورت شي چې بيمار شي

په توبه باندې ډېر بد ښکاري چې زاړه شي
ښکاري ښهٔ چې په ځوانۍ کښې توبه ګار شي

لېونی په کاڼو لګي ورته خاندي
د هوښيارو ځنګدن په يو ګذار شي

خپله غمه د يار غم يې لس مېلمه دے
تا به وکړمه وار وکړه کهٔ دې وار شي

تهٔ دې خپلې سترګې وګوره چې څهٔ کا
د خاطر زړګے به څرنګه قرار شي

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



د دې دنیا نه چې ګلان ورک شي
غږ د بلبل به په بوستان ورک شي

دا ته چې ژاړې ستا ژړا هیڅ نهٔ ده
لکه دریاب کښې چې باران ورک شي

هومره چې سود په لېونتوب نهٔ کېږي
چې په منګل کښې یې ګرېوان ورک شي

څو به لټومه ستا ورک شوي پلونه
چې د خاطر په کښې چشمان ورک شي



چې یې رڼې دے د لېمو په پیمانو شي
سو دې کله بیا د لب په پیمانو شي

څو چې خدای را کړے نهٔ وي نو به ژاړم
د خیبر فصلونه تل په بارانو شي
که د ستا په نوم بدنام یم پروا نشته
لېوني غونډونه تل په لېونو شي
زهٔ د ستا لېونو سترګو نه ډار نهٔ کړم
که خوبونه دې د سترګو لېونو شي¹
هغه شپه چې مې د ستا زلفې په لاس ورې
دغه شپه د سپېلنې د وږاند بنو شي¹

چې د نړۍ ګوډ ته دې ناشي پروا نهٔ کړه²
لے خاطره خاطر تل د مېلمنو شي

---

¹ که دا دواړه شعرونه متن له نهٔ کښې نشته

² د دیوان خاطر کښې دا مصرعه داسې ده : چې د نړۍ ګوډ ته دې را غلے وي سپږي

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ستا چې خوږې زلفې کوڼجې راتاو شي
زما د زړه ځنې رسۍ راتاو شي

په حسره پره لوېږه کښې تاو شي
لکه وړانه بړبوکه را تاو شي

نه به مې بیا کړې لیږنې د غرونو
نه به دا ستا سترګې هوسۍ راتاو شي

په زړه بوږۍ خوبه وا نه مېهم له تا
نه به خاطر ستا له ځوانه راتاو شي

وړاندې به مې دا وې چې کاته به شي
اوس چې په ژوند پوره شوم وایم څه به شي

وایم ستا بېرته د زخمي زړګي نه
بس دے که وې داسې نو ساړه به شي

نه وه مه له داسې جدایي خبر
ما وې په ساعت کښې تله راتله به شي

ورځې کړې تېرې چې راځه ځه غواړي
ما وې چې که راشې نو خرابه به شي

ستا د حسن شمع او دا شوق زما
نه یې پرېږدي دواړه سره مړه به شي

هر وخت چې ژړا کړې خندا نشته دے
زړه خو د خاطر اوبه به شي

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

خزان لاړ شي بهار راشي ګلان خوشحاله شي
بلبل يې د چمن وی بوراګان خوشحاله شي

ښ خو مهٔ راګوره مخ دې بل خوا واړوه
پرېږده چې ناپوهه رقيبان خوشحاله شي

شمع چې بلېږي د محفل د پاره خاندي
زړۀ کښې داسې وايي چې عاشقان خوشحاله شي

راکړه جفا کاڼي، ستمونه کړه غمونه ورک
زړګے د خاطر وچوه خو چې خان خوشحاله شي

○



○

راشه په کوټو کښې د جرګو خبرې نۀ شي
چرته چې په مونږ کښې د پردو خبرې نۀ شي

ډېره شپه له راشه چې لۀ يو بل نه خبر شو
ياره په يو شپه د ټولو شپو خبرې نۀ شي

وايمه لۀ ځان سره چې دا به ورته وايمه
را چې شي آشنا په حوصلو خبرې نۀ شي

زۀ او تۀ چې وو ينو لۀ ورايه سره پوهېږو شو
چا وې چې په سترګو کښې د زړو خبرې نۀ شي

ياره ستا د هجر اوږدو شپو شکوې کړے يم
ګوره چې يې اوس په اسوېلو خبرې نۀ شي

خدای خبر خاطر زۀ بيا چرته تۀ بيا چرته
پرېږده اوس په تلو کښې د راتلو خبرې نۀ شي

○

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

دا ستا په سترګو کښې به څه پاتې شي
رقيبه يار که مې په خُلهٔ پاتې شي

ستړے مزدور سحر وختي پاڅېږي
په شوګيرو مئين ووده پاتې شي

يو ځلې نيغ په دې لار تېر شه آشنا
چې دې کاږه وانږه کاته پاتې شي

افسوس چې ستا په خيال کښې څه بنکاريږه
دغه ارمان به مې په زړه پاتې شي

وستايه ږېر د يار ترا څه خاطره
چې په کتاب کښې دې خوا ږه پاتې شي

○



○

زړه په دې نه دے چې ناولے مخ دے
چې کوم يې خوښ شي هغه ښکلے مخ دے

مخونه ډېر دي خو دا مخ مې خوښ دے
والله يه ټولو کښې و تلے مخ دے

پرېږده چې او ښکې مې بهيږي په مخ
دا بې ګناه جانان ر تهلے مخ دے

څه وشو تا که دېدن بند کړو په ما
خاطر په زړه کښې ستا ستا تلے مخ دے

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



څوک چې ستا د ګرانې مینې طلبګار دے
هغه کله لۀ غمونو نه وزګار دے

ستا سپېڅلې زما په سترګو کښې غرېږي
چې په کوم لوري نظر کړم بهار دے
د منصور خو هسې نوم دے په دنیا کښې
کۀ یقین دې شي نو هر عاشق په دار دے
خندوي، تغیروي چې مې ستا مینه
بس هم دغه مې خزان او هم بهار دے
د رقیب دې څۀ په مخکښې مخکښې کېږي
بس د ستا را باندې هر منت ګزار دے

کۀ دې یار لۀ سترګو وتو خاطره
خپل غزل مخې ته ونیسه دا یار دے

---

میاشتنۍ "غُنچه" پېښور

اګست ۱۹۶۰ ع



خوږ خوږې د مینې په ترخو کښې انتظار دے
ښکلې تماشه په تماشو کښې انتظار دے

ستا لنډو وعدو چې په ما څومره اوږدې کړې
ښۀ دے چې د ژوند په ورځو شپو کښې انتظار دے
مۀ کړه ضبطه مه چې راله اوښکې وچې نۀ کړې
ورېږي دې د چا په دې شپېو کښې انتظار دے
تا چې د وفا پلو په ما باندې ونۀ نیوۀ
ما ته څۀ د هجر په غمو کښې انتظار دے
لاړې د اُمید د زړګي شنې پاڼې مې وچې شوې
بیا د در ته سپرلیه په راتلو کښې انتظار دے
ما وې چې کۀ ښ نۀ وې سباله به دې خوښه شي
وږې مې در ته کږې په اسرو کښې انتظار دے
کله به شي ستا د حُسن شمع را ته بله
ګران را ته د زلفو په تیارو کښې انتظار دے

ښه ده چې خاطر دې دومره مخ ته لا کتلی وو
ښکلیه ستا دیدن په سرو لمبو کښې انتظار دے

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خدایه خوږمه چې وفا زما دلبر دے
چې له غمه يې زړۀ مرم پۀ دۀ اختر دے

د هجران د لاسه شپې و روځ ژړېږمه
ځکه داسې چې پۀ اوښکو ګرېوان تر دے

یا خو زۀ ورته نظر کوم نۀ شم
یا خو دے ورېږ پۀ لمر ښې نور دے

اوس يې سود پۀ بل بشر د زړګي نۀ شي
چې ليدلے يې د يار ښکلے بشر دے

تور بانړۀ د يار دغشو پۀ مثال دي
چې ويشتلے يې زما د زړګي سر دے

دريغه زۀ خاطر خو پوه پۀ سېل قصور کړے
چې پۀ ځنۀ باندې زمانه مرور دے



ما وې ځان را ته اشنا د ستا پۀ ځېر دے
دې وې ور دوستي به ته پوهه شې څۀ وائې خبر دے

دې وې زړۀ که څېرې ستا زما پۀ زلفو
ما وې ستا هر يو کلپ ورته کاوشپږ دے

دې وې زۀ يمه هرسي پۀ مهر و روڼه
ما وې زړۀ زما د لوړو غرونو شپږ دے

دې وې بيا ته مخ ښکاره کړه که پښتون يې
ما وې هر پښتون پخوا له سر، تېر دے

ما وې زۀ خاطر دې هر وخت يم پۀ طمع
دې وې راشه دلته کښېنه غم دې پېر دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

شاید چې حُسن د اشنا یې دلبر نه ړک دے
د زړهٔ جهان یې د لوګو د اسویلو نه ړک دے
خوبنه یې ستا پهٔ بڼو غشو د ه ویشتنه د زړهٔ
ګنې وطن خو هسې یاره د ازغو نه ړک دے
د ستا نصیب شه خوشحالي د بې غمۍ خوبونه
زما د خوار غریب نصیب د شوګیرو نه ړک دے
نمر مخې مخ ته یې لهٔ ورایه نا خبر کتلی
نن را ته ځکه دا جهان د پلوشو نه ړک دے
راشه ګلونه ګواهان دي پهٔ صحرا کښې زما
چې ټول چمن زما د اوښکو د شبنم نه ړک دے
د حسرتونه داغونه تنګ ګوګل زړه کښې
لهٔ دې خوګو بنهٔ دے هر خوګهٔ د تیارو نه ړک دے
زړهٔ یې یوه د لیونتوب پهٔ کښې سودا کړله
بازار د حُسن خو لهٔ ډېرو تماشو نه ړک دے
همدمه مهٔ را یادوه دا تېرې شېرې قصې
زما زړګے خو مختینے لا د ګیلو نه ړک دے
زما خاطر پې لهٔ شکونو لهٔ فکرونو ړک کړو
د مخ کتاب دې راله راوړه د قیصو نه ړک دے

○



○

ټک تور سورے د ستا سورے و د بل دے
چې دې اور د بنګلو مخ ترې لاندې بل دے

چې خو څُم پهٔ مخکښې لا منزل زیاتېږی
اشنا ستا د دې منزل څنګه منزل دے

زړې یې شک پهٔ ګومه لار دے سوداګۍ شوم
نور یې هېڅ مومندلے نهٔ دے خو ستا پل دے

چې اشنا دې پهٔ کښې اوسی اے خاطره
خیبر وګڼه حرم کهٔ څو شنډل دے

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خوږمه پېرې پۀ زړګي باندې چې غم دے
د آشنا سود به پرې نۀ شي وائي کم دے

زۀ چې مستې پرېشان او سرګردان يم
مرېو غم يې لکه زُلفې پېچ وخم دے
د هجران د لاسه شپ و روز ژړېږم
راشه يو وارې پۀ سترګو مې تور تم دے
هغه خاوره مې دارو ده کۀ چا راوړه
پۀ کوم ځاې باندې يې اېښے چې قدم دے
ټول عالم يې وېر صفت د سخاوت کا
ګيله څۀ کړم چې د اخپل نصيب مې کم دے
زۀ خوشحاله مستې شومه پۀ خندل يې
خلقه ما او پۀ جانان کښې کوم يو کم دے
چې دلبرې پۀ ژړا پورې نن خاندي
نو مې شوے مې د سترګو کله نم دے

حکيمانو له مۀ درومه خاطره
د يار شونډې دې پرهر له مرهم دے



ستا پۀ انتظار کښې ماته کال څۀ دے
دومره لا ماندۀ نۀ يم ستا خيال څۀ دے

سوزې هم هغه چې پرې بلېږي اور
خاندۀ لے اشنا تاته ذُغال څۀ دے

تا کۀ پۀ شالۀ کښې پټه ولېدم
بيا به داسې وائې چې مثال څۀ دے

زۀ دې مرېو غم د زړګي داغ کړم
ماته لا د ستا پۀ جبين خال څۀ دے

ما خو درته وېل وړېږه مې مۀ کوه
وګوره خاطره اوس دې حال څۀ دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې زړهٔ مې ستا په تور دے په بل تور مې پېژونه دے
نظر مې ستا په لور کړم په بل لور مې پېژونه دے

اے مجرو چې مې ورانه نهٔ کړې دا د زړګي خونه
ارمان په کښې د یار کړمه په کور مې پېژونه دے

دا نهٔ چې هسې بنا پست باندې شېدا دے زما زړهٔ
د ستا په مخ دې سوزې خو په اور مې پېژونه دے

په غېږ ستا د محفل څنې یې نهٔ شی څهٔ ګذران
در دروی به خاطر خو په پېغور مې پېژونه دے



چې لبې نظر مې د بصر پاتې دے
جو وړې منزل ته وړې سفر پاتې دے

شپه کهٔ اوږده د خوږو زلفو ده څو
وار دې د سپین مخ د سحر پاتې دے
ناز دې د مینې د لمبو څخنې زړهٔ
لا مې په مینه کښې څېګر پاتې دے
تږس د شپې وکړه کهٔ وکړې یقین
ستا انتظار را نه سحر پاتې دے
د انتظار ډېرې چې تنه نهٔ شې
اوس خو شپه تېره شوه سحر پاتې دے
ما خو د ستا په سر وطن ګټلو
خبر شه اوس را نه خبر پاتې دے
نهٔ او انکار لهٔ تا په ګومو ستړګو
لا مې د تن د پاسه سر پاتې دے

نهٔ د ربار په خلهٔ رخصت څکه شم
د یار خاطره چې خبر پاتې دے

[illegible]

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



سترګو دې چل چې د خندا زده کړے
سترګې زما چل د ژړا زده کړے

په لندو پلوونو به يې څنګه خښمه
ما خو تل تګ چې د صحرا زده کړے

ن دې ونه وې په وعدو کښې راته
هره وعده کښې دې سبا زده کړے

خاطره طمع د وفا مه کړه
اشنا خو يو چل د جفا زده کړے



د ځان سينګارولو کښې مسکې وې ما ليدې
زما د زړه په سولو کښې مسکې وې ما ليدې

پرون چې څه پرواه ستا په ګذاب نه وه صنم
زما په زړه وېشتلو کښې مسکې وې ما ليدې

شايد چې وه دریاده حېرانتيا چې هغه وخت
اشين ته په کتلو کښې مسکې وې ما ليدې

خفه يمه په دا که بنه يې ستا له سپي کړم
رقيب ته په وېلو کښې مسکې وې ما ليدې

لبان دې لکه پاڼې اننګې دې سره ګلونه
سحر چې ته په ګلو کښې مسکې وې ما ليدې

خبرې په غصه کښې کېږې هم د چا خاطره
اشنا چې په کتلو کښې مسکې وې ما ليدې

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

اشنا یې نن لیده تېرې وعدې را یادېږي
دا وصل که هجران ده، یې ګیلې را یادېږي

بس ده یې ستا ارمان په زړه کښې نن خدایږد [1]
دا نه چې ماته نورې مرحلې را یادېږي
منم چې فراقجن به نور سبا دا یادېږي [2]
له ما چې اشنا لاړه ماته شپې را یادېږي
که هرڅه شوي، نن یاد له چې هېر دي نشم بنده [3]
پخوا یې لا په زړه کښې اوسېدې را یادېږي
وم دومره لېونے ستا د پرېشانو زلفو نه
چې چرته خو به خاورې بادېږي را یادېږي
زما د زړګي یادشي د مخکې نظر سره
په هېڅ نه هېرېدلې هم داسې را یادېږي
دا نه چې اَهو چشمه اوس یې غټې ستا یمه
د ستا خمارې سترګې لا نورې را یادېږي

بېګا چې شمع رویه هرڅه هېر وه د خاطر
د ستا د محفل ښکلې تماشې را یادېږي

[illegible]

له مصرع یې معنیٰ ده



زما د اُمیدونو ورځې شپې وغزېدې
هرڅو ستا د منزل که مرحلې وغزېدې

اوس چېرته ترېنه لاړ شم لېونے چې کړه یار
هرځای کښې یې د زلفو زولنې وغزېدې

نمر مخینه اوس دې سپې لارې ماته کړې ګوتکې
نظر که ستا د مخ پرې پلوشې وغزېدې

چا هسې داسې نه وي چې خاطر کړو یار ګلا
په دې د رقیبانو جنازې وغزېدې

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ښکلې وې ، وخندېدې شونډې
خود به د سترګو خوښېدې شونډې

دا تۀ چې لاړې شونډې صبغ ونۀ وې
بس کۀ په تا به یادېدې شونډې

سترګو له زۀ کۀ قسمونه ودرکړم
زړګیه تۀ کله پرېږدې شونډې

شول جوابونه د خاطر نه خطا
پۀ کشمکش کښې رپېدې شونډې



پوه شومه پۀ دې چې پۀ کنځل کښې خنګه ښکارې
وخانده یو ځل چې پۀ خندل کښې خنګه ښکارې

ستا د تصور پۀ یو جرنګړه کښې اوسېږمه
تۀ خو راته وایه پۀ محل کښې خنګه ښکارې

شومه به پۀ باغ کښې تۀ پۀ غټو وې خپل ځان ته
ګله د آشنا پۀ سره منګل کښې خنګه ښکارې

سترګې یې پۀ ما کښې دي چې ګورمه هرچا ته
نن راته اے شمعې پۀ محفل کښې خنګه ښکارې

تا به پۀ آئین کښې ځان لیدلے پۀ یو رنګ وی
راشه د خاطر پۀ هر غزل کښې خنګه ښکارې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



اے ګله! چې ستا ړنګې د خندا نه سترګې لاړې
نو خود مې لېمې برېښي د ژړا نه سترګې لاړې

نرګیه! پس له دې به یې د ستا په سترګو ګورم
نظر مې وه اشنا، چې لاړ، زمانه سترګې لاړې
هم دا دې بد رنګه شوه مه ګوره یار له راهزنانو
اے ګله! د دوستو وړاندې مې له تا نه سترګې لاړې
ما وې چې که ورګورې نو اوس بیا مخ پټوې
نو کوزې مې ګرېوان ته له حیا نه سترګې لاړې
یو بل ته په کاته شو او په نهونو زلزلې وې
محفل ته چې ته راغلې د هر چا نه سترګې لاړې
لږ راشه شمع رویه! لېمې وګوره چې څه شوم
د ستا په تماشا کښې مې له ځانه سترګې لاړې

نو څه شو که مرې د خاطر سترګې په تا نه شوې
چې د ږیرې واسې ورېښې له دنیا نه سترګې لاړې

پښتو، قند، مردان
(مسلسل نمبر) جولائی، اګست ۱۹۸۹ع



که دې دا زلفې په لاس راغلې اشنا بیا به څه کړې
که نه عادت له دې بلا سره شم بیا به څه کړې

در ته کتلے نه شم حېران یم د اشنا سینګاره
تا مې چې د اسې په اشنا وکړل په ما به څه کړې

څو به بنېرې او دا دېنه تل ته ماته کړې
چې یې پېرزو نه وی دعا مخه اشنا به څه کړې

چې څه یې وکړل مخه یې تړل وکړل په تا خاطره
دا یه چې تاله په لاس راشي په اشنا به څه کړې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



پر پره خوشحالي بنه نه ده بيا رانه هېرېږي
کله کله غم راکوي تل چې يې يار دېږي

زه دې يم لمګے پېټېدے نه شي رانه شمې
خدايږو د دنيا نه په تيارو کښې بنه بنکارېږي

ماته د اشنا د وعدې هر يو ځاي اشنا دے
اے وږيه نظر ته په هيڅ هم نه مرېږي

ستا به د خاطر نه وي په زړه کښې څه تېرشوي
د وصره بې پروا يې چې په مخ کښې يې تېرېږي

---

۱ [illegible]



لکه مجنون غوندې ګرځم په بيابان درپسې
وايم په خله ليلى ليلى څيرې کړم ګريوان درپسې

نه شوم خبر نه د وصال له خوشحالى نه چرې
لکه وحشى ګرمه غمونو د هجران درپسې

نه دې اشنا يم نه چې بيا راته آشنا ووائې
پروا يې نشته دے په تا نه کړم خفګان درپسې

چې ته بيا نه وائې په ما چې ته شيدا نه يې ته
که د ګمروځې ګذار نه کړو خپل ځان درپسې

په حال خبر شه چې نن دې را نه شي خواله زما
چرې په لاس کړې خاطره د رقيبان درپسې

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



راشه اے ماهٔ تابان په توره شپه کښې
یم تر زلفو پرېشان په توره شپه کښې

له تېکرو بې پروا یم ستا په عشق کښې
لکه بحر یم روان په توره شپه کښې

په خندا مې ستا قسم وی شمع بوبه
څو به کړمه دا ګریان په توره شپه کښې

زهٔ خاطر د ستا د زلفو نه ډار نهٔ کړم
ما لیدلی دی ماران په توره شپه کښې



چې د سترګو دی ښکار زړهٔ زما سترګې
چې یې نهٔ شی کړے پوښتنې زما سترګې

زړهٔ کچکول کړمه د اوښکو په زنځیر کښې
چې درګورم شی نمځنې زما سترګې

مرګ ژوندون دے لبې راګوره د زړهٔ سره
در نه غواړی جوړه بخښنې زما سترګې

دهر چا دې دیدنونه مبارک شی
وېښې ستا د پېرزوینې زما سترګې

په ژړا باندې خو نهٔ شی چې زهٔ ژاړم
ډکې ستا د دړ لمسنې زما سترګې

ستا د سترګو کړی خاطر چې نهٔ درګوری
هسې نه چې دی پارنې زما سترګې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


○

خود د هرې يوې کوڅې شوې زما سترګې
چې د ستا سترګو ته غلې شوې زما سترګې

ستا منزل ته به د زړهٔ په سترګو رسم
په تلو تلو کښې مرحلې شوې زما سترګې

څهٔ زوخونه پرې دګرمو اوښکو اوړی
په ژړا دغم پخې شوې زما سترګې

چې سبا به کايې ستا په در کښې نيسم
خود د هرې يوې نامې شوې زما سترګې

بيا مې هغه خپلې سترګې خپلې نهٔ کړې
چې لهٔ څانه نه په دې شوې زما سترګې

اوس په دم کښې د يار زر ځل ديدن غواړي
د اول نه دېرې ښې شوې زما سترګې

نهٔ خاطر به په ترخو نړهٔ اوس عادت کړم
چې په تا باندې خوږې شوې زما سترګې

---

میاشتنۍ غنچه ستمبر ۱۹۶۰ع

○

د ستا چې نهٔ وينم دا تورې سترګې
په کار مې نهٔ دی دا پورې سترګې

نهٔ به يې د بل سترګو ته پورته نهٔ کړم
د ستا په پل مې دی نسکورې سترګې

ساقي د ستا پيمانه څهٔ کومه
چې داشنا مې دی مېخورې سترګې

خاطره ژاړه لهٔ هجرانه سره
په تصور کښې خړې کړې سترګې

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ځکه د شپې سترګې مې په تا باندې خوږې شولې
چا ته پوره نه شوې چې د ستا په لور کږې شولې

ګوره دا ګرېوان مې چې وحشت څنګه تار تار کړلو
نه شلېږي د ستا د زلفو څرنګه حلقې شولې

ما خو ګڼل چې د ستا خُله ډېره آسانه ده
ګرانه شوله څنګه دومره خُلې چې راپسې شولې

اوس هم ستا د مینې افسانه زما په شونډو ده
څو دې افسانې مې په نړګوتي کښې ورستې شولې

سترګې د خاطر کۀ ستا په سترګو تېر و تلي دي
ګوره مه دا بدې کۀ زما په حقله ښې شولې

تا به کتو غل چرته خاطره د ورک شوي زړه
نه ګورې چې تا ته د اشنا سترګې بس غلې شولې



چې اشارې کړې ایسار به یم ولې
چې پښېمان یې تیار به یم ولې

په یو ساعت کښې مې بیا بیا ژړوې
چې اوس ژړېږم قرار به یم ولې

دریغه چې مې دې دستم نه وې زړه
چې نه مرکېږم ازار به یم ولې

نور به دې څه وکړي بانه په خاطر
ټول دې پرهر کړمه وېرېږم ولې

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



اوښکي نهٔ کمیږي خو را ماتي شوي
تا چي خندا وکړه نور زیاتي شوي

څو ځلي د اوښکو سره درغلم
دا څنګه جرګي او ننواتي شوي

څو به ګوري ستا سترګي زما سترګي
لږي دي وي خو دے هو چي زیاتي شوي

تا چي د خاطر سره څهٔ کړي دي
خو دے اشنا دا یي درته پاتي شوي



تهٔ به پهٔ زړهٔ کښي ماله څهٔ راکوي
کهٔ راکوي ماله به زړهٔ راکوي

منع به نهٔ شم ستا لهٔ دره څخي
پهٔ دي دي نهٔ یم که څهٔ نهٔ راکوي
څهٔ لوي اختر دي د ځوانانه تېر کړلو
تهٔ به لا سونه ما ته بسهٔ راکوي
داسي چل وکړه چي نو بس ورو وډېږم
سبا به ښکليه يو لمبه راکه
دا خوشحالي به ماته څوک راکوي
چي ټول غمونه راله ته راکوي
چي پرون دي او ګوره دي کړم نو ماله به شي
اوس څو به هر څهٔ پهٔ کالهٔ راکوي

ضد لهٔ خاطره سره مهٔ کوه تهٔ
کهٔ یي اوان راله پهٔ خُلهٔ راکوي

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



تهٔ ما ستا بلې یو پهٔ سله نهٔ یې
دا تهٔ زما پهٔ وینا څله نهٔ یې

کهٔ څوک خپل ځان درته ذرې ذرې کا
خپله کوې تهٔ د چا خپله نهٔ یې

دا تهٔ څرچرته یې چې نهٔ یې نهٔ یې
هر وخت زما سره تهٔ څله نهٔ یې

خاطر به هم پهٔ تا اعتبار کوی لا
تهٔ خو هم هغه یې څهٔ بله نهٔ یې



هر څو کهٔ چې د زړهٔ قرار دلولو له راځې
پوهېږم ولې نه چې قتلولو له راځې

بلبل کړې د ګل وصف کهٔ بهار وی کهٔ خزان
بورا تهٔ څو یې بس یو ښکلولو له راځې

غمونه د اشنا زهٔ اوس پهٔ هیڅ نهٔ هېروم
اے غمه د دنیا کهٔ هېرولو له راځې

ارمانه د اشنا شه د اشنا سره مېشته
چې زړهٔ ته د خاطر ازارولو له راځې

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



# سندرې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

○

داسې راته ګورې لکه ته چې راته ګورې
نېغ مې لۀ نرګې وُقې کابۀ چې راته ګورې

کله چې د زلفو ورېځ لرې کړې لۀ مخه
شى دې پلوشې ښکلې بانۀ چې راته ګورې

هغه وخت لږ ورېږوى ته چې مخ راڅخې پټ کړې
داسې معلومېږى لکه ښۀ چې راته ګورې

ته زما د زړۀ نه دخپل حُسن تپوس وکړه
زۀ به درته ووايمه څۀ چې راته ګورې

نن خو مې خاطر وکړه چې مۀ راته راګوره
زۀ درته کتے نۀ شمه ته چې راته ګورې

○

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


اوس را نه هیڅ نه ښی خطا ده
له هرڅه هرڅه وو تمه
ګرانه اشنا دا مې سزا ده
نه چې په تا مئینېدمه
نه در نه خفګه هېرېدمه      خپلو وعدو نه وشرمېږه
تا چې خندل نه ژړېدمه      له هغو شپو نه وشرمېږه
هېره زما تر له دنیا ده
شام و سحر دې یادومه
ګرانه اشنا دا مې سزا ده
نه چې په تا مئینېدمه
غرېږه غر نه ودمې صفه      چې وي ټوټې ندې لغرېه راشي
درته په زړه کښې به یې ساتمه      پرېږده چې مو بنه په جفا شي
زما په سترګو کښې حیا ده
نه یې په څه درواړومه
ګرانه اشنا دا مې سزا ده
نه چې په تا مئینېدمه



تل به په هرچا داسې کېږي      په داسې خلقو چې اعتبار کا
له خپله ځانه چې خبر نه شي      له ګړنګو به یې ګذار کا
د ښکلو مینه بې وفا ده
نه به یې څه درته ستایمه
ګرانه اشنا دا مې سزا ده
نه چې په تا مئینېدمه
خاطر خوږمه وے درکړلی      اوس یې ژوندون اختیار درکړ
هغه چې تا درته خندلی      نن یې د لوږې خندا تور دے
زما د زړه خوږینه ژړا ده
څکه یې نه قرار ومه
ګرانه اشنا دا مې سزا ده
نه چې په تا مئینېدمه

[illegible]

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې مې سترګې دیدن د اشنا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نړۍ دُنیا نهٔ کا

زهٔ به څهٔ کړم ګریبان چې یار راکړی ګل
پهٔ زخمونو ملهم به کیږدي د ګوګل
هسې هسې مې یار خندا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نړۍ دنیا نهٔ کا

ایله زُلفې یې اوس غُنچې ته جوړې شوې
دواړه شونډې یې خند بدو ته جوړې شوې
مل به څنګه زما سودا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نړۍ دنیا نهٔ کا

د ستا مخ ته زما نظر ورسیدو
هغه اود مې سم تل تر څنګ ورسیدهٔ
بې لهٔ سوزه خو هیڅوک ژړا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نړۍ دُنیا نهٔ کا

اے خاطره ګیلې د خپل یار دومره مهٔ کړه
تهٔ طمع د دل آزاره مهٔ کړه
اے شباب خاطر د هیچا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نړۍ دُنیا نهٔ کا



شوې د زړهٔ سترګې سپینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې اشنا تا پسې

لبانو ستا نهٔ د بنامار پهٔ شان خوږلے یمه
زهٔ دې د سترګو پهٔ بنړو باندې ویشتلے یمه
ځې مې لهٔ خُلې نه توری وینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې اشنا تا پسې

پهٔ دې هجران کښې به تر څو پورې ګرځیږمه زهٔ
شام او سحر لکه ماشوم غوندې ژړیږمه زهٔ
اوښکې مې ځې پهٔ مخ رنګینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې اشنا تا پسې

چې تهٔ کوې پهٔ ما ظلمونه راته پېغور د صنمه
خاطر کوی در ته سوالونه پهٔ زړهٔ یې نور د صنمه
وهم رباب ځکه د مینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې آشنا تا پسې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



نهٔ ومه خبره زهٔ، تاچې زړهٔ با بُلبلے دے
تا ووې ربہار ته پس لهٔ دې به څو راځې
خبر دے که تش تور ې دې پرون زړه کښې شپلۍ
خیال ې وهٔ سکار ته پس لهٔ دې به څو راځې
وښایه څنګه راته اوس د زړهٔ سرراته
وایه د بېوغشو پهٔ کوم کوم ځای ویشتلے دے
لاس کښې آئینه ې وه کړې چې کینه ې وه
ماکتل رخسار ته پس لهٔ دې به څو راځې
څنګه مې ې در شمه پهٔ حال دې چې خبر شمه
لاس کښې دې رقیب راته ډک تورپک نیولے دے
یو غلې درغلے وم ډېر دې زغلولے وم
غلے وم دیدار ته پس لهٔ دې به څو راځې
ساچې کوم ستم کړے اوس ې پهٔ تاکم کړے
دا دځوانۍ ولړ پهٔ ما نن سبا راغلے دے
شو خاطر غلام دستا کړې به تل سلام دستا
پرې ې بنده در بار ته پس لهٔ دې به څو راځې

نن څو را ته مهٔ وایه چې نا تر سبا
سو دې ساقي نهٔ شي پهٔ مینا تر سبا
ووایه اشنا راته، تهٔ زما تعبیر نهٔ یې
وی چې تل پهٔ خیال کښې ې تهٔ صفه تصویر نهٔ یې
بېله راته بنکاری دا دُنیا تر سبا
سو دې ساقي نهٔ شي پهٔ مینا تر سبا
راکړه ساقي داسې مئې چې شي زما او ستا نشه
هم پرې د چوپتیا نشه هم پرې د دنیا نشه
جام د لبو راکړه پهٔ بیا بیا تر سبا
سو دې ساقي نهٔ شي پهٔ مینا تر سبا
نن ځو دې راجمع شهٔ پهٔ مشر کښې کېفونه دک
ستر ګو پیمانو کښې دې رنګ پهٔ رنګ ستونه دی
ګلې د خاطر شه پهٔ ربنتیا تر سبا
سو دې ساقي نهٔ شي پهٔ مینا تر سبا

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



طلب کړم صنم چم په چم
لوند يې کړيوان دے څاڅي يې نم

مينه وفا دې نښته
په چا پروا دې نښته
ويره له چا دې نښته

کوه ستم طلب کړم صنم

رنگ يې تک تور صنمه
سوے په اور صنمه
کومه شور صنمه

وکړه کرم طلب کړم صنم

مينه بهار دے دستا
چمن گلزار دے دستا
خاطر ماليار دے دستا

د ګل په چم طلب کړم صنم

ے متن اومنداو ديوان کښې مصرع داسې ده چې چم په چم طلب کړم صنم



چې ستړګې نه وباسي، زما او ستانه
راځه چې دردمو دواپه،له دې دنيانه

زما او ستا دلته څه دی، خوږه مينه
دا خو هر چرته کيږي، چې داسې وينه
ځان له به جوړ کړو بوستان، په بيابانه
راځه چې دردمو دواپه،له دې دنيانه

څو به په وېره سره، ديدن په غلا کړو
په انتظار کښې سره، بېگا سبا کړو
ته شه له زلفو تېره، نه له کړيوانه
راځه چې دردمو دواپه،له دې دنيانه

دا ړک د مينې ړړونه، به دوا په يو سو
څه چې ځنګل ته لاړ شو، هلته به اوسو
يو دې چار ګل په پوښ، بل دې پېزوانه
راځه چې دردمو دواپه،له دې دنيانه

دا مې په خوا خاطر کښې، نه وو صنمه
چې زه خاطر به شمه، په خاطر جمعه
څکه چې ستا له غمه، ډېر يم پرېشانه
راځه چې دردمو دواپه،له دې دنيانه

ے متن او ديوان کښې (د) دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



د سبې نه کال ته د پېر غمونه
لۀ داسې ژوندنه مرګ بنۀ دے را دې شينه
الله دې خير کړي
ستا د ماڼو فرياد ونه
هير به مې نۀ شي
تکه د زاڼو قطارونه
هير به مې نۀ شي
پاس پۀ اسمان کښې جهانونو سره ځينه
الله دې خير کړي
د پښتنو فقيره ژوندده
خندګه به تېر شي
تېر خو به شي پۀ لوږه تنده
خندګه به تېر شي
پۀ مصيبت به دې څوک سر ته رسوينه
الله دې خير کړي



نوم د پښتو راځني هېر شي
څوک مې يادېږي
غم د هغوي را سره پېر شي
څوک مې يادېږي
څوک چې د قام او د اولس خدمت کوينه
الله دې خير کړي
خاطره هغه خلق ستا يه
پۀ خپل کتاب کښې
تل پۀ بار بار د غسې وايه
پۀ خپل کتاب کښې
حاجي سرونه پۀ وطن ورکړي دينه
الله دې خير کړي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



شوګیرې ټولې په سباسبا کېږي تېرې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو

ستا د بنا ښسته سترګو د یاره    فکرونه مانه ښکلیه یاره
څومره لېږي په ژړګوتي باندې تېرې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو

د خدای د پاره بس ګړاشه    که مرور یې راپخلا شه
ستا د راتلو په انتظار سترګې سترې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو

دا ته چې لاړې د بل چا شوې    زما د زړه څخې جدا شوې
زما د استړې شوګیرې دې ټولې هېرې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو

خاطره زه ځان ته حیرانه یمه    که لېرا ګوري بس روانه یمه
د پیغلتوب ملګرې ټولې دا نه ګېرې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو

د قافیه درسته نه ده



واوره صنم زړه مې نه شولا تا نه
ویلی نه شم زه څه له حیا نه

دغه ستا د مینې دردونه ښه دي په ما
زړه مې دستا د یاره واڼي چې وي دې په ما
واوره صنم

په کومه لاره ښکلیه چې قدمونه کېږدې
زه به د مینې په زړه باندې داغونه کېږدې
واوره صنم

زړه مې له خپله کوره تښتي چې راشې صنم
خاطر به ګران دې په ما چې په خنداشې صنم
واوره صنم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

پهٔ تش دیدن باندې مې نو نو مشغولېږه
څو مهٔ خفه کېږه بله ورځ به راشم

لهٔ هرچا پټه پټه ستا یارانه به کړمه
تا له چې در شمه نهٔ څهٔ بهانه به کړمه
پهٔ انتظار کښې مې لهٔ ځان سره ژړېږه
څو مهٔ خفه کېږه بله ورځ به راشم

کړم دا وعده در سره چې تا به هېر نهٔ کړمه
یو ساعت بې لهٔ تا به پهٔ نور څهٔ تېر نهٔ کړمه
پهٔ دې سودا مې ؤدهٔ کېږه راوېښېږه
څو مهٔ خفه کېږه بله ورځ به راشم

نښه د ستا او زما ، ماهِ تابان شو سره
بل مې کاروان د ستورو پهٔ کهکشان شو سره
د سبائی د خیال خوبونو کښې زنګېږه
څو مهٔ خفه کېږه بله ورځ به راشم

ځان ته دا ټوله دُنیا خاطره ما وګڼه
پهٔ کښې مې مخ او زُلفې بېګا سبا وګڼه
د نړهٔ پهٔ مینه مې پهٔ ستر ګو کښې اوسېږه
څو مهٔ خفه کېږه بله ورځ به راشم

ځکه په دیوان او مثال نه کښې (د) دے



تهٔ چې پهٔ مرګ زما رضا یې
ما ته قبوله دلروبا یې
ستا رضا ده چې دا سې ژړېږم
پهٔ عالم کښې دا سې ګرځېږم
پهٔ محبت مې نا رضا یې
ما ته قبوله دلروبا یې

عاشقي وه پېدا لهٔ اوره
لږ زما سوی زړهٔ ته وګوره
جوړ پهٔ معنیٰ قیمت بها یې
ما ته قبوله دلروبا یې

خاطر ته ګوره دا سې حیران دے
پهٔ محبت کښې ستا بندیوان دے
پې کبرجنه بې رښتیا یې
ما ته قبوله دلربا یې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خوښه دې شوه ولې زما داشنا مینه
اې زړه غمګینه

اې زړهٔ ذرې شه
خاورې ایرې شه
څې دې دستګو د زړګي وینه
اې زړهٔ غمګینه

راشه کهٔ وینې
د زړګي وینې
د یار پهٔ غم کښې چې دوی راځینه
اې زړهٔ غمګینه

خاطره داشې
تا نه جدا شې
جوړ د وصال شې د یار که دینه
اې زړهٔ غمګینه



اوس به وطن د سرو ګلونو ډک شي
راغې سپرلې وار د خزان تېر شو
څهٔ به د ښکلو نګهتونو ډک شي
راغې سپرلې وار د خزان تېر شو
بلبله ستا د تماشو ورځې دي
راشه هم دا دې د نغمو ورځې دي
نه چې لا هغه د ازغو ورځې دي
ځان کړه پهٔ خبر اوس د ګلو ورځې دي
راشه چې ژوند دې د خوښو ډک شي
راغې سپرلې وار د خزان تېر شو
اوس به تول بوټي سره ځان وښائي
غوټک به کلۍ غوټک به ګلان وښائي
لاله به هم خپل ګرېوان وښائي
هم به بلبل شور و فغان وښائي
اوس به ښائسته د رنګونو ډک شي
راغې سپرلې وار د خزان تېر شو

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



جونه به ولونه د وربل جوړوي
په کښې ځایونه به د ګل جوړوي
سرې سرې غنچو نه به منګل جوړوي
په آئینو کښې به کاکل جوړوي
دغه جهان به لا نازونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

ښکلي ځلمي به په شملو کښې بندي ګل
ارس خو به جونه په کمڅو کښې بندي ګل
ډېر ارمانونه به په زړو کښې بندي ګل
څوک به د زړه په پرهرو کښې بندي ګل
داسې به زړونه په داغونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

زه کوم ژړا د چا خندا نه وینم
چې مې لیده هغه رڼا نه وینم
ګل د رخسار چې د اشنا نه وینم
زه نور ګلونه د دنیا نه وینم
څو که جهان له دیدنونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

د ارمانونو لوے جهان رڼوي
زړه په ګوګل کښې مې جانان رڼوي
د مینې ګل را نه هجران رڼوي
نه کړي خاطر دغه بوستان رڼوي
د مخ کتاب دې د رانونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

څه به د ښکلو نګهتونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زړګے مي غواړي شمع روڼه سوزېدل
راشه یو ځل

ارمان مي دا دے کۀ پوره شي
د رنځ دارو مي د اشنا سره لیدل
راشه یو ځل

څو به شوګیر کوم راته وایه
واړه خوبونه راځني وتښتېدل
راشه یو ځل

کۀ دیدن کړې تلوار راوکړه
همزولې راغلې خوروي مې تور وربل
راشه یو ځل

عاشقان ګوره حال یې څۀ شو
لکه پتنګ چې پۀ لمبو وسوزېدل
راشه یو ځل

سوال د خاطر منظور کړه یاره
جفا دې پرېږده د وفا وکړه کتل
راشه یو ځل



ښۀ دې وربل پۀ کوم پلو دے
بیا به سوزېږمه زۀ اور راته بل دے

د ګوند کاروان مي دے د غم څپو ګړدونکي
واوره فریاد مي د جرس پۀ اوازونو کښې
تلے دې پل پۀ کوم پلو دے
بیا به سوزېږمه زۀ اور راته بل دے

ترڅو د هجر دا اوږدې شپې او تیارې به وینم
سبا د وصل به وی لرې کۀ نژدې به وینم
د ستا منزل پۀ کوم پلو دے
بیا به سوزېږمه زه اور راته بل دے

خاطره ښ دې کۀ لږ سم راته کتلي وے
واړه بلا پسته به دې لۀ زړۀ ځنې وتلي وے
د کتو چل پۀ کوم پلو دے
بیا به سوزېږمه زۀ اور راته بل دے

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ستړې نیولې دې ماستا په رخسار کښې
او به او به شول توری ئې په خمبار کښې
ما چې لیدلے ، ستا پښو کښې پل دے
غم د وحشت ، وحشت راسره مل دے
اوس مشغولا کړم په دغه لار کښې
او به او به شول توری ئې په خمبار کښې
نه در رسیږی نه درته غږېږی
نه را نه خمب شی نه را نه ښ شی
داغه ژوندون دے په انتظار کښې
او به او به شول توری، ئې په خمبار کښې
یار چې له بنګلو سره روان دے
دې تماشې ته خاطر حیران دے
نکه سپوږمۍ وی، ستوری قطار کښې
او به او به شول توری ئې په خمبار کښې

زما په طمع به کړې تېرمې وختونه
زه دې یاره نه یم دومره وزګاره نه یم
چې درته کوم
ما ته را یاد نه دی څوک زه په ځان کښې یمه
په زړګی غم نه لرم په خوشحالئ کښې یمه
زه لېونے یم چې کوم دومره فکرونه
زه دې یاره نه یم دومره وزګاره نه یم
چې درته کوم
لېونی نه یمه چې، د غسې سودا کومه
په تا دې اور بلېږی زه څه پروا کومه ۱
چې بیا همزولې را ته نه کا پېغورونه
زه دې یاره نه یم دومره وزګاره نه یم
چې درته کوم

---

۱ متن لپاره لوستونکي دېر مصرع داسې دی :
لېونی نه یم چې دا سودا کړم — په تا دې اور بلېږی زه څه پروا کړم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

دومره وزګاره نه یم چې خپل ځان ودینم
چې په ائین کښې ګورم آئین پرېشان ودینم
جانانه دېر درپسې ګرځمه ارمانو نه
زه دې یاره نه یم دومره وزګاره نه یم
چې درته ګورم

زه چې ګورم له ځمه مئین سوزېږې په ما
لکه د اور په شان سپېڅار ځلیږې زما
خاطره مه راځه بلیږې سره اوږدو نه
زه دې یاره نه یم دومره وزګاره نه یم
چې درته ګورم

تورې سترګې دې اشارې کا — سرې شونډې لبې کا
زړه کیږه راته وایه — چې زه کوم طرف ته لاړ شم

کله بانړه راته انغې کا — پېښې د ګلو انګې کا
چې مسکې شې بیا سترګې مرې کا — سرې شونډې لبې کا
زړه کیږه راته وایه — چې زه کوم طرف ته لاړ شم

بیا چې ارمان د ېس ته وی — کره چې ځه دې تن په زړونږی[1]
چې مو خلق ټول تماشې کا — سرې شونډې لبې کا
زړه کیږه راته وایه — چې زه کوم طرف ته لاړ شم

د انتظار په تورو شپو کښې — دا دې خاطره په تیارو کښې[2]
خپلې اوښکې دې ځان ته وېرې کا — سرې شونډې لبې کا
زړه کیږه راته وایه — چې زه کوم طرف ته لاړ شم

[1] له منزل ته اړ دیوان کښې (ن) نشته
[2] له منزل ته کښې دا بند نشته

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې تر سبا به مې ژړا په تا پسې کړه
را يادې هغه شپې کړه
زما نا ترسه ياره

دلبره ښه را ته معلوم يې
مسې خو نه چې ته ماشوم يې
کله نه يې په ما مظلوم يې
چې نه پوهيږې له هغو سره وعدې کړه
را يادې هغه شپې کړه
زما نا ترسه ياره

چې ستا د مخ په تماشا وم
دغه وصال وه که جدا وم
نه يم خبر په څه سودا وم
چې تماشا مې ستا د مخ د تماشې کړه
را يادې هغه شپې کړه
زما نا ترسه ياره

چې په غمونو کې دې ګېر کړم
اوس دې دلبره ځله هېر کړم
که دې يو ګل په ديدن سېر کړم



کتنې له غمه به دې سر شم يا مړې کړه
را يادې هغه شپې کړه
زما نا ترسه ياره

چې د اغيارو زما يار شې
بس اوس مې قتل ته تيار شې
اشنا زما څخې وېزار شې
پرواې نشته خو په خپله مې ذبحې کړه
را يادې هغه شپې کړه
زما نا ترسه ياره

ځکه قبول دغه بېلتون کړم
څه بې له تا په دې ژوندون کړم
دلبره مينې دې مجنون کړم
جانانه اوس را پورې ټوقې مسخرې کړه
را يادې دغه شپې کړه
زما نا ترسه ياره

د ستا چې نه يمه د چا يم
راغلې دايم په خندا يم
مړوند نه يمه پخلا يم
خاطره بيا که مړوند شوم نوکيلې کړه
را يادې هغه شپې کړه زما نا ترسه ياره

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

تېر به دستا د حسن وار شي یاره زما
اخر خزان به دې بهار شي یاره زما

چې نۀ را درومې اشنا نو وعدې څله کوې
هغه پرون دې څۀ وې ن چې بیا بیا کوې
زما یقین ستا په اقرار شي یاره زما
اخر خزان به دې بهار شي یاره زما

ستړګې مې بې له تا نه د چا په لور نۀ ګورې
دستا له مخه ځنې مخ نور نۀ ګورې
مرې به کله په دیدار شي یاره زما
اخر خزان به دې بهار شي یاره زما

نۀ د بل چا د مینې اشنا څۀ طمعه نۀ کړم
نۀ به له نور سره ستا مینه سمه نۀ کړم
په ما خاطر دې کۀ اعتبار شي یاره زما
اخر خزان به دې بهار شي یاره زما

له منزلونه او دیوانه کښي (هی) دے

چې نۀ را درومې یاره ته، منع دې کړه یاد زما
نۀ شومه پوه په خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما

ان د یو ساعت مهمان د لې
واوره زما یو خو ګیلې
تېر به شي ستا شباب، سر دې نۀ کړو مراد زما
نۀ شومه پوه په خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما

چا ته بنکاره کړم خپل ځيګر
نۀ کړې پروا پرې دلبر
نورې دې خوک چې یې واورې دغه فریاد زما
نۀ شومه پوه په خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما

کۀ بنۀ دې شي په سر زما
وې دې پیشکش دلبر زما
واڼۀ خاطر شه نار له تا، نشته باقي جانب داد زما
نۀ شومه پوه په خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



د قام ځلمو ستړګې مو پورته کړې خپل ځان وګورې
چې ته کښې ورسېده ، وګورې جهان وګورې

د قام ځلمو زمونږ همدغه د ختو ورځې دې
دا مو د ژوند د بنه کېدو د خوشحالو ورځې دې

د نمر په څېر ې خپل طاقت په ټول جهان خور کړې
په خپل همت هر چرته نوم د پاکستان خور کړې

شاته نور مه ګورې په وړاندې خپل قدم کېږدې
په وړاندې لاړو باندې مه ځې قدم سم کېږدې

له مخې لرې کړې ازغي ځان ته ګلونه کېږدې
شي چې اغیار در ته حیران هلته کښې پلونه کېږدې

مونږ له چې مخې له راغلي وار خطا تللي دي
ځلمو زمونږه ځنې ډېر ځلي په شا تللي دي

زه جهان څه کړم چې نمر مخيه يار ته ووينم
ښکلې دنيا ووينم ښکلې دنيا ووينم

ستا د کاکل په تورو شپو پورې لاشېې څه دي
ستا د سرو شونډو انګو پورې غنچې څه دي
دې تماشه ې د ژړا چې د ې خندا ووينم
ښکلې دنيا ووينم ښکلې دنيا ووينم

د ستا په مينه کښې د خلقو خندنې خوښ يم
خود خپل عقل ته وړ کار شم لېونې خوښ يم
راسره غم د لېونو شي چې صحرا ووينم
ښکلې دنيا ووينم ښکلې دنيا ووينم

ګله چې ما خاطر ته ياد شې ټول جهان ګل شي
له ډېره هجره ضرورګل ې د چشمان ګل شي
خداې خبر بيا چې زه به ستورے د سبا ووينم
ښکلې دنيا ووينم ښکلې دنيا ووينم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



تاسو هم واورئ چې پېغور ته نظر تېت نهٔ شي
د پاکستان ځلمو مېدان کښې مو سر تېټ نهٔ شي

د مشرانو تل ځلمو نصيحتونه نهٔ وی
دا مو دے وخت د ترقی ته تل دا وختونه نهٔ وی

ملا مو د قام خدمت ته وتړئ چې سيال شئ پکښې
دا تنګي لندې کړئ اوارې چې خوشحال شئ پکښې

چې ننې ورنهٔ کړئ ځلمو بيا به يې ګله وکړئ
د خپل وطن خدمت ته پورته شئ پهٔ خپله يې وکړئ

يو بل ته مهٔ ګورئ ، لهٔ ځان هر يو ماليار جوړ کړئ
د پاکستان د هر يو ګوټ ځنې ګلزار جوړ کړئ



د دښمن پهٔ خونه تندر د اسمان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو
شان و شوکت دے زمونږ
جاه و حشمت دے زمونږ
د قربانۍ پهٔ ډېرو وينو د امکان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو
دا ډېرې مهٔ کوه
هسې د پکې مهٔ کوه
زړهٔ د فولادو نه د هر يو مسلمان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو
غم د بلا نهٔ کوو
د چا پروا نهٔ کوو
مقابلې ته د دښمن زمونږ يو ځان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو
مونږ د خپل کور کړو فکر
هم د خپل ورور کړو فکر
فکر مو دا دے چې کشمير کښې هندوستان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

څاڅکي په شان وو اول
حېران پرېشان وو اول
اول وو څاڅکے اوس درياب ترې بې پايان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو
هر امتحان ته ولاړ !
دغر په شانته ولاړ
وائي خاطر چې کلک په شاني د سندان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو

ستا د هلال ستورے مدام اختر دے زمونږ
د ستا مشال ستورے بېداري نظر دے زمونږ
د ستا د اقبال ستورے سر او بصر دے زمونږ

تل ځلېږي په تا چې يې روښان وطنه
د پاکستان وطنه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**